
# د ماټریالیزم تاریخ

م. انور نومیالی




د ماټریالیزم تاریخ

لیکوال: م. انور نومیالی

# History of The Materialism

By: M. Anwar Nomyaalai



# د ماټریالیزم تاریخ

**لیکوال: محمد انور نومیالی**

## دکتاب پیژندنه

د کتاب نوم: «**د ماتریالیزم تاریخ**»

لیکوال: **محمد انور نومیالی**

ناشر: **آریانا مجله (د افغانستان د ډیموکراټیک جمهوریت د علومو اکاډمي)**

بیا ټایپ، ډیزاین او ترتیب: **لرغون لونګ**

لومړی خپریدنه: **۱۹۸۴ م کال**

بیا خپریدنه: **۲۰۲۳ م کال**

# یادابښت

«د ماټریالیزم تاریخ» د اسـتاد محمد انور نومیالي هغه رسـاله ده چې د لومړي ځل لپاره د افغانسـتان د ډیموکراټیک جمهوریت په زمانه کې، د هغـه وخـت د علومو اکاډمۍ لخوا د خپریدونکي (آریانا) مجلې په پرلپسـې (۳۴۸)، (۳۴۹) او (۳۵۰) شمېره ګڼو کې خپره شویده. موږ پر پښـتو ژبه د دغه ډول علمي او تیوریکي موادو د کمښـت پر اساس دا بهتره وګڼله چې دغه ارزښـت لرونکي علمي رسـاله، یو ځل بیا له سره ټایپ او د ځوانو پښتنو لوستونکیو د لوست لپاره تیاره کړو.

اسـتاد د لا ډېرو، دې ته ورته علمي آثارو څښتن دی. هیله ده په خپل وار ټول یو ځـل بیـا د ده پـه خپل خواږه سـاده نثري سـبک د ګرانو لوستونکیو لاسونه ښکل کړي.

**د استاد یاد به د حقیقت او عدالت پر لاره د ټولونکیو افغانانو په زړونو او ذهنونو کې تل تر تله ژوندی وي.**

**ل.ل**

## فهرست


۱- مقدمه

۲- د ماټریالیزم تیوري

۳- د ماټریالیزم ابتدا د فلسفي سیستم په توګه

۴- ساده (یا خود بخودي) ماټریالیزم (په لرغوني زمانه کې)

۵- نتیجه

٦- ساده (یا خود بخودي) ماټریالیزم (په منځنیو پیړیو کې) نامینالیزم

۷- نتیجه

۸- میکانیکي ماټریالیزم (یا میتافزیکي ماټریالیزم)

۹- نتیجه

۱۰- ډیالیکتیکي ماټریالیزم

۱۱- د ماټریالیزم د ډیالیکتیکي تکامل شرایط

۱۲- د ډیالیکتیکي ماټریالیزم ظهور

۱۳- ډیالیکتیکي مرحلې ته د ماټریالیزم تاریخي انکشاف

۱۴- نړۍ ته کتنه ( د ډیالیکتیکي ماټریالیزم په هنداره کې )

۱۵- د ډیالیکتیکي ماټریالیزم ساینس

۱٦- نتیجه

## مقدمه

د فلسـفې تاريخ په لازم تفصـيل سـره ډېر وسـيع کار دی چې حتی، څو جلدي دايرة المعارف يې هم په بشـپړه توګه نســـــي احتواء کولای. د ټولو فيلســوفانو نومونه، د دوی شـخصـــي تاريخ، د نظرياتو ډولونه او د هغوی د دوکتورينو يو تاريخي او منطقي ترتيب بيا داســې کار دی چې حتی د امکان په صــورت کې هم ناممکن دی.

په هر صـورت د فسـلفې د يوې ځانګې تاريخ هم له مشکله څخه خالي نه دی، ځکه هغه انشـعابات چې د افرادو د شـمېر په اندازه د دوی په فکري دوکتورينو کې ليدل کيږي، هم د دې کار ســاحې ته زيات وســعت ورکوي. خو البته کله چې د يوه فلسفي سيستم کُلي مقولې په نظر کې ونيول سي، نو د هغه د تاريخي انکشـاف په مورد کې هم رڼا اچول کيدای سـي. پر دغه اساس باندې ما دې ته اقـدام وکړ چې د ماټرياليزم يوه لنډه تاريخي او منطقي څېړنه وليکم چې د دغه فلسفي سيستم مفهوم د غوښتنو سره سم روښانه سي.

که څه هم ماټرياليزم خورا ډېر ښـاخونه، زياتې ځانګې او بې شمېره نومونه لري او پر زيـاترو انحرافي شـــکلو بـانـدې يې لکـه (ولګرمـاټريـاليزم)، (اقتصـــادي ماټرياليزم) او داسـې نورو د يوه فلسـفي مکتب نوم ايښوول سوی دی، خو زه په

لیکنه کې یوازې د هغه اصلي شکلونه د فلسفي تکامل له پلوه څیړم، چې دغه شکلونه شوروي فیلسوف (خارین) تر درو نومونو لاندې داسې توضیح کړي دي:

| | | |
|---|---|---|
| **د لرغونو فیلسوفانو ساده ماتریالیزم:** نړۍ د اصلي عناصرو (اوبو، اور او نورو) یوه مجموعه ده او روح د بدن خاصیت دی. | **میتافیزیکي ماتریالیزم (یا میکانیکي ماتریالیزم):** نړۍ یوه بې حرکته مادي هسته ده، فکر د طبعیت یو خاصیت دی. | **ډیالیکتیکي ماتریالیزم:** نړۍ په منطقي توګه متحرکه ماده ده. شعور د ټولې مادې پر ځای یوازې د هغې مادي خاصیت دی چې په عالي ډول یې تشکل موندلی دی. |

## ماتریالیزم

هستي لومړۍ ده، طبیعت لایتناهي دی، تفکر او روح د مادې خواص دي.

باید وویل سي چې د فیلسوفانو په افکارو کې کیدای سي چې متداخل عقاید وموندلی سي، خو د تیوري په شکل پورتني درې عمده ډولونه د ماتریالیزم د تاریخي سیر بېلابېل غټ مشخصات ښکاره کولای سي. په دې لیکنه کې د همدغه تصنیف په اساس د ماتریالیزم تاریخي او منطقي انکشاف څیړل سوی دی.

**د ماټریالیزم تیوري:**

پـه دې هیلـه چې د ګرانو الفـاظو او پیچلو مفـاهیمو پـه جنجـال کې د مطلب له تکي څخه لیرې نه سـو، نو خپل بیان سـم سـیده په دې خبره را شروع کوو چې «د طبعیـت پیژنـد ماټریالیزم دی» دغه جمله که څه هم ډېره ســاده لیدل کیږي، خو د افـادې لـه پلوه د یوه ســتر فلســفي مفهوم ځرګنـدوی ده. د دې جملې اخیســتنه د (اینګلس) له هغې خبرې څخه ســوې ده، چې وایي: « د طبیعت په بـاره کې مـاټریـالیســتي نظر یوازې دا مفهوم لري چې طبیعـت فقط هغه شـــان وپېژندل ســـي، لکه څنګه چې دی، بېله دې چې نور بېګانه شـــیان ورســـره ګډ سي ».(۱)

اوس نو وینو چې ټولـه ژوي د خپلې حیاتي وظیفې پر بنا ډېر یا لږ داســـې جوړ سوي دي چې د طبیعت په غېږ کې د خپل چاپیریال له شیانو او جریاناتو سره د پیژندنې او شـناخت فطري رابطه لري او د همدغې رابطې په شـبکه کې د خپل پایښـت لپاره له هغه څخه اسـتفاده کوي. کیدلای سـي چې د ژوندیو موجوداتو پر همدغه فطري رابطه باندې چې د طبیعت سـره د غریزې شـناخت او پېژندنې پـه شـــکـل موجودیـت لري، د غریزي، یا فطري او یا خو طبیعي ماټریالیزم نوم کېښږدو.

خو انسـان چې له لویه سره د ژوندانه په سلوک کې له نورو ژوو څخه توپیر لري او د ثابتو غرایزو له محدودیته وتلی دی، نو ځکه د طبیعت سـره د ده د پیژندنې رابطه او د هغې په ساحه کې له طبیعت څخه استفاده یوه شعوري پروسه ده چې هر کله یې د انسـان له اجتماعي او تاریخي انکشـاف سره، اجتماعي او تاریخي

ابعاد پیدا کړي دي او د تکامل د پرله پسې مراحلو په وهلو سره یې د انکشاف ناپایه لاره مخ په وړاندې اخیستي ده. کیدلای سي چې پر دې ډول رابطه باندې د شعوري ماټریالیزم نوم کېښېږدو.

د دې لپاره چې د انسان د شعوري ماټریالیزم پر مبداء رڼا واچوو، نو په کار ده چې د انسان او حیوان ترمنځ د توپیر پر اصلي ټکي وږغیږو. په دې باب خورا زیاتې خبرې سوي دي او لا هم کیږي، خو یوه ډېره پخه خبره چې لایزال علمي حقیقت معرفي کوي، د مارکس هغه خبره ده چې وایي: «انسانانو هغه وخت له حېواناتو څخه ځان را بېل کړ چې د ژوند د لوازمو په تولید یې شروع وکړه».(۲) په دې اساس نو تر هغې زمانې چې انسانانو د طبیعت له تیارو پیداوارو څخه استفاده کوله، نو د طبیعت پېژندنه یې هم د حېواناتو په څېر تر غریزي حدودو پورې محدوده وه، خو کله چې یې تولیدي فعالیت ته لاس واچاوه، نو یې له حیواني نړۍ څخه په اساسي توګه ځان را بېل کړ.

همدغه تولیدي فعالیت په خپله د دې حقیقت شاهد دی چې انسان د طبیعت پېژندنې په کار کې مخ ته ولاړئ او تر حیواني حدودو واوښتی. تولید په خپله د طبیعت پېژندنې دلیل دی، ځکه «هغه څه چې موږ تولیدولای سو، په یقین سره هغه ناپیژندلای نسو ګڼلای.» (۳)

له طبیعت څخه د انسان استفاده او د هغه په غېږ کې د ده تولیدي تصرفات او په دې تصرفاتو کې زیاتیدونکی انکشاف ټوله د دې حقیقت څرګندوی دی. انسان په فطري ډول طبیعت پېژني او په شعوري توګه یې دغه پېژندنه هم پراختیا پیدا کوي او هم ژورتیا. ځکه نو شعوري ماټریالیزم د تولید له پروسې سره یو ځای د ټولنې په تاریخ کې را پیل سوی دی.

څرنګه چې د طبیعت د پېژندنې په جریان کې انسان په اجتماعي او تاریخي شرایطو مقید دی؛ نو ځکه هر کله یې د دې چارې انکشاف په سوچه توګه سرته نه دی رسیدلی، بلکې په دې پېژندنه کې یې تل تر تله بېګانه شیان ورګډ سوي دي. کیدلای سي د دې بېګانه شیانو پر تصوراتو باندې چې په حقیقت کې یوازې تخیلي موجودیت لري، د شعوري ایډیالیزم نوم کېښېږدو.
په دې ډول نو د انسان په شعور کې هر کله د ماټریالیزم او ایډیالیزم عناصر یو په بل کې اخښلي دي او د دوی ترمنځ د تضاد له حرکته څخه هغه تاریخي انشکاف را پیدا سوی دی، چې پوهنه یې بللای سو.
د تخیل په ناپایه نړۍ کې که انسان هر څونه له طبیعت څخه لیرې الوتنې کوي او د واقعي پیژندنې پر ځای د بېګانه شیانو انعکاسات زیات تمثلوي، خو په عملي ژوند کې او په تېره بیا د تولید په پروسه کې چاره نلري چې د شعوري ماټریالیزم لاره تعقیب نکړي. ځکه د ژوند طبیعت دی مجبوره کوي چې ارومرو به د طبیعت په عیني نړۍ کې د طبیعت له مادي وسایلو څخه د طبیعت پر مادي لاره باندې کار اخلي. په تاریخ کې انسان ډېرې تخیلي مقولې جوړې کړې دي او لا یې هم جوړوي، خو یوازې د دۀ هغه کارنامې هم عینیت لري او هم حقیقت چې مادیت پکې انعکاسیږي او ژوندي انکشافات یې لیدل کیږي. د جنګ لپاره تر جادو توره ښه کار کوي او د رنځ لپاره تر تعویذ دوا. که په جادو او تعویذ کې عیني او مادي قدرت پروت وای، نو انسان به هیڅ کله ځان نه وای زهیر کړی چې په عوض پسې یې تلاښ وکړي، ځکه ضرورت به نه وای.
څرنګه چې ایډیالیزم د انسان ضرورتونه نه دي پوره کړي، نو انسان بله چاره نه

ده لیدلي پرته له دې چې ماټریالیزم ته انکشـــاف ورکړي. ماټریالیزم د انســـان د پراټیک اصیل زوی دی.

د هرې زمانې او د هرې عقیدې انســـان که د ژوندانه د طبیعي وظایفو په ســـاحه کې وڅارو، نو تخیلي فکر چې یې هر څه وي، خو په عمل کې د دې شـعور په پیروۍ حرکـت کوي چې د لوږې لپـاره ډوډۍ لټوي، د تنـدې لپاره اوبه، د ځان ساتنې لپاره ټاټوبی او د بدن د پټیدو لپاره کالي. د انسان دا رنګه په سلهاوو او په زرهاوو فعالیتونه چې په ساده یا مرکب ډول یې ترسره کوي، ټوله دا راز تشبثات دي چې پـه نژدې یـا لیرې تحلیـل کې دا نتیجـه ثـابتوي چې دی کـه پـه ځـان پوهیږي او که نه پوهیږي، خو د خپل حیاتي سلوک له مخې خود بخوده که یې د ځان لپاره خوښه وي او که یې نه وي خوښه، یو ماټریالیسټ دی. همدا خبرې پـه کُلي توګـه دې نتیجې تـه راټولیږي چې د ژونـد وظیفـه پـه خپله د ماټریالیزم لومړنی اساس ګڼل کیږي.

### د ماټریالیزم ابتدأ د فلسفي سیستم په توګه:

د ټولنې پـه ابتدایي مرحلو کې چې انســـان د ژوندانه له پلوه له طبیعته ســـره ډېر سـطحي تماس درلودی، نو یې ځان او جهان په داســې اسـاطیري اندېښـنو کې تمثیلاوۀ چې د دۀ د ټولنې لـه تولیدي ســـطحې ســـره یې برابري درلوده. د ده د اســـاطیرو ســـاحې ته له عملي ژونده څخه ماټریالیســـتي عناصـــر او له تخیلي انعکاسـاتو څخه ایډیالیسـتي عناصـر راتلل او د دوی له تضاده څخه د اساطیرو پروسې پرله پسې تکامل او انکشاف کاوۀ.

د زرهاوو کلونو په دوران کې د اساطيرو په شکل راغونډ سوي افکار، عقايد، نظريات يا په لنډه توگه د اجتماعي شعور محتويات د ټولنيز انکشاف او ضرورت سره سم د تکامل دې حد ته ورسيدل چې د مرئيتوب په فرماسيون کې يې د ماترياليزم او ايډياليزم په دوو متضادو فلسفي او فکري سيستمونو کې تبارز وکړ. سر له اوسه نو په طبقاتي ټولنه کې پر نورو جگړو سربېره د دوو فلسفي دکتورينو ترمنځ د انسان د ځان او جهان د انعکاسولو په برخه کې هم مبارزې پيل سوې.

د فلسفي نظامو را پيدا کېده که د ټولنې په ارتباط کې وکتل سي، نو د ټولنيز توليد د انکشاف له هغې مرحلې سره سمون خوري چې د بدني کار او دماغي کار ترمنځ د وېش زمينه برابره سوه. دا وخت چې دماغ د لاس له برکته له طبيعت څخه را تجريد سو، نو د سوچه مجرداتو په جوړولو يې په اساسي توگه شروع وکړه او د دماغ تحويلخانه يې د وچو تخيلي موجوداتو له پيداوارو څخه ډکه کړه. د الماني ايډيالوجۍ په کتاب کې (مارکس- اينگلس) ليکي «د کار ريښتونی وېش فقط له هغې شيبې څخه را پيدا کيږي چې د مادي او ذهني کار ترمنځ وېش را څرگنديږي. له دې شيبې را هيسته نو شعور حقيقتاً خپل ځان په دې غوړه مالۍ ستايلای سي چې دی د موجود عمل له شعوره څخه توپير لري او واقعاً داسې څه تمثيلولای سي چې هغه هېڅ واقعيت نلري. سر له اوسه نو شعور په يوه داسې دريځ کې راځي چې ځان له نړۍ څخه ازادوي او دې ته اقدام کوي چې (سوچه) تيوري، تيولوجي، فلسفه، اخلاقيات او داسې نور تدوين کړي». (۴)

د کار له دغه وېش سره نو د ټولنيز شعور ساحې ته دوه رازه متضاد جريانونه را سر سوه. له يوې خوا هغه افکار او انتباهات ورته راتله چې مادي کارکوونکو د طبيعت له شيانو او پديدو سره د مخامخ عملي فعاليت په دوران کې حاصلوله او له بلې خوا هغه تصوري موهومات ورته راتله چې روحانيونو د انسان او طبيعت په باب د تخيل په خلوتګاه کې د ټولنې له اړتيا سره سم جوړوله. له لومړي جريان څخه فلسفي ماټرياليزم او له دوهمه څخه فلسفي ايډياليزم منځ ته راغی. فلسفي ماټرياليزم له دې پلوه چې په ريښتوني توګه د طبيعت پيژندنه ده، نو د انسان د ژوند لپاره علمي اهميت لري، خو فلسفي ايډياليزم چې د دې پيژندنې سره د بېګانه شيانو د راګډيدنې پديده ده، نو د مخنيوي په غرض د هغه په باره کې هم ژورې څېړنې په کار دي. د دې لپاره چې څوک وغواړي له ايډياليزم څخه ځان وساتي او يا هغه له ريښو څخه وکاږي، نو په کار ده چې تاريخي انکشاف او ماهيت يې د ماټرياليزم په رڼا کې وګوري.

## ساده یا (خودبخودي) ماټریالیزم (په لرغوني زمانه کې):

د نړۍ په باب ماټریالیستي نظر له خورا لیرې زمانې څخه را شروع سوی دی. د لرغوني زمانې ماټریالیزم پر دې عقیده رابناء و چې مادي نړۍ عیني موجودیت لري او د دې دکتورین پالونکي د یوه داسې اصلي او بنیادي عنصر د تشخیص کېدو په تلاښ کې و، چې د نړۍ ټوله رنګارنګ شیان له هغه څخه راپیدا سوي دي. دوه نیم زره کاله تر مېلاد دمخه یعنې هغه وخت چې د لرغوني مصر، بابل، هند، چین، یونان او روم د مرئیتوب په فرماسیون کې فلسفي دکتورین تدوین کېدل، نو د ماټریالیستي نړۍ لید څرګندونې هم پکې موجودې وې. د دغې زمانې په دوران کې د ټولو شیانو او ژوندیو موجوداتو اساسي منبع (اوبه) تشخیص سوې وې.

د مرئیتوب د ټولنې په طبقاتي جوړښت کې ماټریالیستي افکار د ساهوګانو مترقي قشرونو د مبارزې په سلسله پالل کېده، چې غوښته یې صنائع او سوداګري انکشاف وکړي او علمي پوهنه او کلتور مخ ته ولاړ سي.

ماټریالیزم له دوی سره مرسته کوله چې د هغې سیاسي او اقتصادي سلطې سره مقابله وکړي چې د ساهوګانو اشرافي طبقې قایمه کړې وه او هر کله یې تلاښ کاوه چې ټولنه د مذهبي او اساطیري عقایدو په اثر د رکود په حالت کې وساتي. د دغې ټولنیزې غوښتنې په اثر نو ماټریالیستي افکارو دې درجې ته تکامل وموندی، چې ماټریالیستي فلسفه څنې جوړه سوه.

زر کاله تر مېلاد دمخه، ماتریالیزم د افکارو د یو بشپړ سیستم په توګه لږ او ډېر نور هم تنظیم سو. دغه کار په تېره بیا په هند او چین کې په ډېر ښه صورت سرته ورسیدی. مثلاً د هند هغه فلسفي مکتب چې د (لوکایاتا **Lokayata**) په نامه یادیږي د نړۍ په باب د افکارو د یوه داسې ماتریالیستي سیستم ښکارندوی دی چې بشپړ انکشاف یې کړی دی. د دغه مکتب اساس (بریهاسپتې **Brihaspati**) ایښی دی. د (لوکا) لفظ په (دهر) او دې (نړۍ) ترجمه سوی دی چې په دغه اساس نو (لوکایاتا) زموږ د فلسفي ادبیاتو په اصطلاح په (دهریتهٔ سره ترجمه کېدای سي.

د (لوکایاتا) پیروانو په هند کې د خپل وخت خپاره مذهبي عقاید چې په (ویدا) کې راغلي وو ډېر سخت انتقادول. دوی د جادو او خرافاتو ټوله شکلونه کورټ غندله او د روحانیونو دا خبرې یې درواغ بللې چې روح نه فاني کیږي او تر مرګ وروسته خپل ژوند ته ادامه ورکوي.

همدغې زمانې ته ورځېرمه د نړۍ په باب یو ماتریالیستي نظر په چین کې منځ ته راغی. تر میلاد دمخه د نهمې او اوومې پېړۍ په ترمنځ وختو کې یو داسې مکتب په چین کې خپور و چې د مذهب سره یې مخالفت کاوهٔ او نړۍ یې ابدي ګڼله. د دې مکتب له ښوونو سره سم نړۍ د اور، اوبو، لرګو، خاورو او فلز له پنځو عناصرو څخه جوړه سوې ده.

په چین کې ماتریالیستي نظریاتو انکشاف کاوهٔ، څو چې تر میلاد دمخه په شپږمه پېړۍ کې یې هغه فلسفي سیستم منځ ته راوست چې د (تااوویزم **Taoism**) په نامه یادیږي. د دې مکتب مؤسس د (لاوتځې **Laotze**) په نامه بلل سوی دی. د ده پیروانو نړۍ ابدي ګڼله او هغې ته یې د دایمي حرکت او

تغییر پـه ســـترگـه کتله. (تاویســـتیانو) عقیده درلوده چې حرکت د (تاو) له خوا هـدایـت او اداره کیږي. (تـاو) چې څیړونکو ترجمـه کړی دی، مفهوم یې هغـه لاره ده چې د طبیعت پېښو مخ په وړاندې اخیستي ده.
ماتریالیسـتي سـیسـتمونه چې زر کاله تر میلاد دمخه په هند او چین کې منځ ته راغلـه، لومړی یې د مـذهبي عقـایـدو ســره مقـابلـه پیل کړه خو وروســـته یې د ایډیالیزم له فلسفي سیستم سره چې د مذهب تیوریکي اساس یې جوړاوۀ خپلې مبارزې تنظیم کړې. د دغو مبارزو په دوران کې ماتریالیسـتي سـیسـتمونو زیاته وده وکړه او پوخوالي ته ورسـیدل. په مجموعي توګه د فلسـفې تاریخ د همدغو مبارزو تاریخ دی، چې د ټولنیزو طبقاتو له را پیدا کېدو ســره را پیدا ســوي او د هغو له پای ته رسـیدو سـره به پای ته رسـیږي، تر میلاد دمخه د شـپږمې پېړۍ په حدودو کې د هغو هندي ماتریالیستي فیلسوفانو څرک هم ایستل سوی دی چې د (چارواکیانو) په نامه یادیږي.
دوی عقیده درلوده چې ټوله نړۍ د انســـان په ګډون د اوبو، اور، خاورې او هوا له څلورو عناصـرو څخه جوړه سـوې ده. فکر یې یوازې د انسـان خاصـیت بالۀ چې هغه له څلورو عناصرو څخه د ده د جوړ سوي بدن د ترکیب په سلسله منځ ته راغلی دی. (چارواکیانو) د څښـــتن موجودیت نه مانۀ او د روح د تناســـخ په بـاره کې یې مذهبي ښـــوونې چټې بللې. نړۍ ته یې په دې ســـترګه کتل چې د خپل طبیعت یعنې د خپلو دنني علتونو په سـبب انکشـاف کوي. دوی د مذهب او د خپـل وخت د ایډیالیســـتي دوکتورینو ســـره جوړه نه کوله. په نتیجه کې نو روحـانیونو لـه دوی څخـه ډېر بـد وړۀ او د مذهـب افراطي پیروانو د دوی زیات اثـار لـه منځـه یو وړه. په لرغوني هند کې د ماتریالیزم انکشـــافات چې تر میلاد

دمخه د څلورمې او دوهمې پېړۍ په ترمنځ وختو کې یې جریان درلودئ، یوه سلسله څانگې یې کړي وې، چې د هغو له جملې څخه د (سنکهیا **Sankhya**)، (نیایا **Nyaya**) او (ویسیشکیا **Vaisesh**) دکتورینونه د یادونې وړ دي.

**تالیس (Thales) ٦٢-٥٤٧ ق.م:**

له بلې خوا د یونان په قلمرو کې ماتریالیستي فلسفي نهضتونه هم د ټولنې د ضرورت پر بنا مخ پر غوړیدو و، هلته تر میلاد دمخه له شپږمې پېړۍ را هیسې د فلسفي دکتورینو په شانداره او منظمه توگه انکشاف کاوۀ. په دې جریان کې ماتریالیستي نړۍ لید د هغې مبارزې نتیجه وه چې د مذهب په مقابل کې سرته رسیده او د مریي لرونکي طبقې د مترقي قشر گټې یې تمثیلولې. په لرغوني یونان کې هم د فلسفې او هم د ماتریالیزم تاریخ د (تالیس) په نامه را شروع کیږي. تالیس چې تر میلاد دمخه د شپږمې او اوومې پېړۍ په کلونو کې یې ژوند کاوۀ د کوچنۍ اسیا د دریایي غاړې د (آی اونیه) په سیمه کې د هغه لرغوني ښار اوسیدونکی و چې د (مالیتس) په نامه یادیږي. دی سربېره پر هغه چې فیلسوف و د هندسې، اقتصاد او نجومو په باره کې یې هم لوی لاس درلودئ. د فلسفې په برخه کې یې د نهایي واقعیت د ماهیت په باب پوښتنه منځ ته راوړه او د ټولو شیانو د جوړیدو اساسي ماده یې د پلټنې موضوع وگرځوله. د دې پوښتنې په ځواب کې دۀ مذهبي او شعري روایاتو ته مراجعه نه کوله، بلکې خپلې تجربې او مشاهدې ته یې ترجیح ورکوله او زیار یې ایستئ چې د خپل فکر او استدلال په اساس ځواب ورکړي. (تالیس) د ټولو شیانو بنیادي عنصر اوبه بللي چې هر څه له اوبو څخه را پیدا سوي او بېرته بالاخره په اوبو

تبدیلیږي. (اوبو) ته دۀ د بې ژونده مادې په سترګه نه کتل، بلکې هغه یې داسې ماده بلله چې د ژوند جوهر پکې موجود دي. (تالیس) د فلسفې په تاریخ کې لومړی (هایلو زویست Hylozoist) یعنې دې تیورۍ ته معتقد دی چې هره ماده ژوندۍ ګڼي. دغه نوم چې له (هایلي Hyle ماده) او (زویي Zoe- ژوند) څخه راوتلی دی، د ماتریالیست بشپړ مفهوم افاده کولای سي او همدغه دلیل دی چې ماتریالیزم د (Hylozpism) په نامه یادوي. که څه هم د (تالیس) اثار نه دي پاته سوي، خو د تفکر هغه طرز چې د دۀ له خوا منځ ته راغی، د فلسفې په تاریخ کې یې ډېر اثر پرېښودلای دی. د مشاهدې ماتریالیستي او ساینسي خصوصیت ته یې د پلټنې په چارو کې رواج ورکړ او د هغه فکري مکتب تهداب یې کښېښود، چې د (مونیزم Monism) په نامه یادیږي او د ماتریالیزم له پلوه یې مفهوم دا دی چې ټوله نړۍ یوازې په یوازې مادي ماهیت لري او هر څه چې لیدل کیږي، هغه یوازې د مادي اصولو له مخې تشریح کېدای شي.

دا هم د (تالیس) له علمي کارنامو څخه ده چې د لومړي پلا لپاره یې د شمسي کال موده (۳٦۵) ورځې تثبیت کړې او ویل کیږي چې د لمر تندر نیونه یې په هغه زمانه کې د خپلې نجومي مطالعې له مخې تر وخت دمخه پیشګویي کړه.

## اناکسیماندر Anaximander ٦۱۰- ۵٤٦ ق.م

کومه لاره چې (تالیس) پرانیستلي وه تر هغه وروسته د (مالیتس) د یو بل اوسیدونکي اناکسیماندر له خوا وپالل سوه او په هغې کې نور هم مخ ته ولاړئ. ده دا استدلال منځ ته راوړ چې مشخصه ماده لکه (اوبه) نسي کېدای چې د ټولو پیښو د ظهور لپاره بنیادي ماده وبلل سي، بلکې هغه باید «نامحدود» او

«نـامعينـه» وي. د ده په عقيده د ټولو شـــيانو لومړنۍ منبع د (اپيرون Apeuron) يوه نامنکشـفه کتله ده چې د څرخنده حرکت په سـلسـله فيزيکي نړۍ ته وېشل سـوې ده او داسـې اضداد لکه (لوند)، (وچ)، (سور) او (تود) ځنې را پيدا سوي دي. ټوله کائينات او گرد شـــيان چې را پيدا کيږي او څه زمانه دوام کوي، بيا نو بېرته د همدغه حرکت او د اضـدادو د راپيدا کېدو په سـلسـله له منځه ځي او په «نامحدوديت» اوړي. اناکســـيماندر عقيده درلوده چې نړۍ په دايمي حرکت او څرخ کې ده چې په همدې سبب له (نامحدوديت) څخه ځينې شيان او پديدې را پيدا او ځينې بېرته له منځه ځي او په خپل اصل تبديليږي. ده، دغه اصله ماده نـه يوازې نامحدوده بلله، بلکه هغې ته يې د نافاني کيدونکي او نه تماميدونکي په ســترگه کتله چې د بيالوجيکي تکامل په گډون ډېر بېلابېل جريانونه ځنې را پيدا کيږي.

اناکسـيماندر په داســې حال کې چې ماټرياليســتي نظر يې ډېر څرگند و، خو د حرکت او اضدادو له پلوه يې نړۍ په ډېر ډياليکتيکي توگه تشريح کوله.

وايي چې اناکسـيماندر د علمي کارونو په لړ کې يو لمريز ساعت هم جوړ کړی و او د وچې او درياب نقشــه يې هم ترتيب کړې وه او يو شــمېر بېلابېل نجومي الات يې هم منځ ته راوړي وو.

## اناکسيمينيس Anaximenes ۵۸۵-۵۲۵ ق.م

دی هم د (مالتيس) اوسـيدونکی و او د محسـوسـو شيانو د مبداء په باره کې يې ورته نظريه درلوده. (اناکســيمينيس) ويله چې اصــلي ماده (هوا) ده او د هغې د حرکت په سـلسـله ځينې شـيان را پيدا کيږي او ځينې له منځه ځي. څرنگه چې

هوا تل ترتله په حرکت کې ده نو د انبساط یا د انقباض په لړ کې یوه او بله ماده ورڅخه جوړیږي. مثلاً د انبساط په صورت کې په (اور) او د انقباض په صورت کې په (باد) تبدیلیږي چې نوره یې هم د انقباض درجه زیاته سي په اوریځ اوړي او د دغه زیادت په سلسله خاوره او بالاخره ډبره ځنې جوړیږي. ټولو شیانو ته نو ده د هوا د مادې د بیلابیلو حالاتو په سترګه کتل.

## هیراکلیت Heraclitus ۵۳۰- ۴۷۰ ق.م

د کوچنی آسیا د (ایفه سس) د ښار دغه یونانی فیلسوف د ماټریالیستي نړۍ لید په انکشاف کې خورا زیاته برخه واخیسته. ده دا خبره نه منله چې ټوله شیان یوه داسې ثابت واقعیت ته رسیږي چې هغه دایمي وګڼل سي، بلکې د نړۍ د اساسي مشخصاتو له جملې څخه یې د هغې د تغیر قابلیت ته زیاته توجه اړوله او ویله یې چې «ټوله شیان بهاند دي، هیڅ شی ځای پر ځای نه پاتیږي. تر یوه رود څوک دوه واره نسي اوښتلای.» اینګلس چې کله په (تخیلي او علمي سوسیالیزم) کې د نړۍ ډیالیکټیکي منظره تصویروي، نو وایي چې دغه سلسله د لومړي پلا لپاره (هیراکلیت) داسې تدوین کړه چې «هر شی هم موجود دی او هم نه دی موجود، ځکه هر شی بهاند دی، تل تر تله تغیر خوري او هر کله وجود ته راځي او له منځه ځي»(۳)

(هیراکلیت) عقیده درلوده چې پوهنه په احساس شروع کیږي او په فکر بشپړیدو ته رسیږي. په شیانو کې یوازینی شی ابدي او دایمي ګڼل کیږي، هغه د تغیر قانون دی چې هر څه تر لاندې دي. کومه ماده چې د نړۍ ماهیت او د هغې حرکت یې ښه تمثیلولای سوای، د ده په نظر کې (اور) و، نو ځکه هغه یې

د نړۍ بنيادي اســاس ګـڼـۀ. د ده خبره ده چې وايي «جهـان واحد دی چې نه څښـــتن پيدا کړی دی او نه انســـان، بلکې تر ترتله يو ژوندی اور (و)، (دی) او (وي بـه) چې پـه قـانونمنـده انـدازه لګيـدلی او پـه قـانونمنـده اندازه مړ کيږي». (هراکليت) د اضـــدادو مبارزه د ټولو شــيانو ماهيت بالۀ او د اضـــدادو انډول يې هغه حالت ګاڼۀ چې کوم شي ته په موقتي توګه واقعي موجوديت ورکوي. د ده پـه افکارو کې د ډيالکتيک ډېرې مقولې موجودې وې. (هراکليت) ســـربېره پر هغـه چې نړۍ يې مـادي بلله، د هغې قانونمندۍ ته يې هم توجه اړولي وه. لنډه دا چې په لرغوني يونان کې د خودبخودي ماټرياليزم او ډيالکتيک د موسـسينو په جمله کې د خپلې زمانې ډېر ستر فيلسوف تېر سوی دی.

## **اناکساګوراس Anaxagoras ۵۰۰-۴۲۸ ق. م**

دغه فيلســوف عقيده درلوده چې نړۍ په اصــل کې له داســې مادي ذراتو څخه جوړه ســوې ده چې په ناپايه توګه ويشــل کيدای ســي او د ټولو موجوداتو مبدأ تشـــکيلوي. دغـه ذرات ده د (هوميوميري **Homoiomeriae**) په نامه بلل چې مونږ يې پـه بنيـادي ذراتو ســـره ترجمه کولای ســـو. ده نظريه درلوده چې دغه ذرات پـه نړۍ کې وار د واره ګـډوډ پراتـه وو، خو يو عـامـل چې دی يې نفس (**Noue**) بولي، دغه ذرات په داســې څرخ کښيايسته لکه په اسماني حرکاتو کې چې ليـدل کيږي. نو دا ذرات تصـــنيف ســـوه او هر يو خپـل ځـان تـه موقعيت ونيوئ، څو چې نړۍ ځني را پيدا سوه.

اناکساګوراس په نجومو کې هم علاقه اخیسته او دا خبره یې د لومړي پلا لپاره اعلان کړه چې د سپوږمۍ ترنده په دې سبب پیښیږي چې مځکه د لمر او سپوږمۍ په منځ کې واقع سي.

ده بیالوجیکي تکامل ته هم توجه اړولي وه. د ده نظریاتو چې له مذهبي عقایدو سره ټکر کاوه، نو په دې تورن سو چې د ده ښوونې د خلګو عقیده ور خرابوي او نو ځکه په آخر کې دې ته مجبوره سو چې له (اتن) څخه ووزي.

**لیوکیپ Leucippus د ۴۴ ق.م حدود:**

دغه یوناني فیلسوف عقیده درلوده، چې نړۍ په خپل ماهیت کې له یو زیات شمېر ذراتو څخه جوړه سوې ده. (لیوکیپ) دغه ذرات د (اټومونو) په نامه یادوله. د ده په عقیده، اټومونه هغه مادي واحدونه دي چې په اندازه او شکل کې توپیر سره لري او په (خلا) کې حرکت کوي. له دوی څخه ټوله شیان جوړیږي. حتی روح چې له شیانو څخه د راپاڅیدلو تصوراتو په سلسله له موجوداتو څخه خبریږي، هم له دغو موادو څخه منځ ته راغلی دی. د دې فیلسوف په نظر کې د طبیعت جریان داسې ګڼل کیدئ چې د منتطقي علت او ضرورت له ټاکنې سره سم سرته رسیږي.

اینګلس د (یوجانس لایرتس) له لرغوني کتاب څخه د (لیوکیپ) نظریه «د طبیعت ډیالکتیک» په کتاب کې داسې رانقل کړې ده: لیوکپ «هغه لومړی سړی و چې اټومونه یې د عمومي اساسي موادو په توګه تثبیت کړه... او دی یې د عناصرو په نامه سره بولي. له دوی څخه د شمېر په لحاظ لایتناهي جهانونه را

پیدا کیږي او بېرته په دوی کې منحل کیږي. د جهانونو د جوړښت ترتیب داسې دی چې په یوه ټاکلي ســاحه کې د نامحدودو اټومونو له جملې څخه یو زیات شــمېر هر راز او هر شــکل اټومونه رابیلیږي او په پراخه خالي فضــا کې را رهي کیږي. دوی یو د بله سـره غونډیږي او یو واحد گرداب جوړوي. په دې گرداب کې یو د بل ســره ډکی وهي او په هر ممکن صــورت څرخنده حرکت کوي او متجانس اټومونه یو د بل سـره د یو ځای کېدو په وسـېله له نورو څخه رابیلیږي. دا اټومونه په شـمېر دونه زیات دي چې نور نو د تعادل په توگه څرخ نســــــي وهلای او هغه شـمېر چې وزن یې سپک وي، د (غنمو) د بادې په شان د باندې خالي فضـا ته ځي. دا نور پاته یې خپله تجمع سـاتي او سـره گډیږي او په خپله دایره کې یو ځای حرکت کوي او یو لومړنی کروي نظام منځ ته راوړي.»

## ډیموکریټ Democrite ۴٦۰- ۳۷۰ ق. م

د (ابدیرا) د ښـار دغه یوناني فیلسـوف د (اټومي) تیوری له وړاندې کېدو سـره لرغونی ماټریالیزم خپل اوج ته ورساوه. ماټریالیست ډیموکریټ د خپل نړۍ لید په وسـېله وکړای سـوه چې د طبیعت ژورو مادي اسـرارو ته ډېر ور نیژدې سـي. کله چې د لرغوني یونان په تاریخ کې د ماټریالیزم پر نهضــت خبرې کیږي، نو ډیموکریټ یې د مخکښو فیلسوفانو په سر کې راځي.
ډیموکریټ سـربېره پر هغه چې فیلسـوف و، د خپلې زمانې په زیاتو علومو کې یې هم لوی لاس درلودی. وایي چې د پوهنې د تلاښ په لار کې یې مصـــــــر، بـابـل، هنـد او ایران ته هم ســفرونه کړي وو او له پلاره څخه چې ډېر ثروت په

میراث ور پـاته ســـوی و هغه یې ټوله د طبیعت د حقایقو د پیدا کولو په لار کې ولګاوه.
د ده له تیوري سره سم نړۍ له بې شمېره اټومونو څخه جوړه سوې ده چې شکل او انـدازه یې توپیر ســـره لري او پـه خلاء کې حرکـت کوي. د دغـه حرکـت پـه سـلسـله دوی سـره یو ځای کیږي او اجسـام ځني را پیدا کیږي. هر څه موجود شیان چې سته، ټوله له اټومونو څخه جوړ سوي دي.
د انسـان روح هم له مخصـوصـو اټومونو څخه یو جوړ سوی ترکیب دی چې د بدن له مړینې سره هغه هم له منځه ځي.
ډیموکریټ اټومونه داسې کوچني ذرات بلله، چې نه په سترګو لیدل کیږي او نه تجزیه قبلوي. په دوی کې نفوذ نســـي کیدای او نه هم فاني کیږي. دوی ابدي موجودیت لري، چې د طبیعي ضـــرورت له مخې د یو ځای کېدو او ســـره جلا کېـدو په جریان کې یې رنګارنګ ترکیبونه منځ ته راځي او هم له منځه ځي. ده عقیـده درلوده چې د اټومونو حرکت ابدي او ازلي دی چې نه په ابتداء ســـره را شروع کیږي او نه په انتها سره پای ته رسیږي.
«د طبیعت ډیالکټیک» په اثر کې اینګلس د (ارســتو) له لرغوني کتاب څخه د ډیموکریـټ اټومي تیوري داســـې را اقتبـاس کړې ده: «خو لیوکیـپ او د ده د نظریې پـالونکی ډیموکریـټ عقیـده لري چې عنـاصـــر له (ملا) او (خلا) څخه عبارت دي چې دا یو د (ســته) او دا بل د (نســته) په نامه ســـره بولي. د دغو له جملې څخه (ملا یا غلیظ) له (سـته) یعنې د (نسـته) په نامه سره بولي او (خلا یا رقیق) له (نسـته) سره یو شی بولي، نو ځکه دی په دې عقیده دی چې (نسته) تر (سته) په واقعیت کې کم نه دی...

او وايي چې همدوی د شـــيانو مادي علتونه دي. کټ مټ لکه هغه کســـان چې داسـې اصـلي واحده ماده تثبيتوي، چې هغه د خپلو تحولاتو په سـلسله نور ټوله شـــيان منځ ته راوړي. همدغســـې دا مفکرين عقيده څرګندوي چې (توپيرونه) (يعنې د اټومونو توپيرونـه) د رنګـارنـګ شـــيانو د راپيدا کېدو علتونه دي. دوی وايي دغه توپيرونه درې دي: شـکل، ترتيب، وضع. په دې ترتيب نو مثلاً (A) له (N) څخـه پـه شـــکل کې توپير لري او (AN) بيا له (NA) څخه په ترتيب کې توپير لري او (Z) بيا له (N) څخه په وضع کې توپير لري».

**اپيکور Epicurus ۳۴۱- ۲۷۰ ق. م:**

هغه وخت چې په يونان کې د مرئيتوب فرماسيون د طبقاتي مبارزاتو په وسېله له برمـه لويـدئ او د (اتن) په تاريخي ښـــار کې ايډيالوجيکي مبارزې په شـــدت رواني وې، د مـاتېرياليزم بيرغ (اپيکور) اوچت ســـاته او د ماتېرياليزم فلســـفه يې يوازې دې خواته نه وه متوجه چې تش د طبيعت مجرد حقايق وڅيړي، بلکې د مترقي ماتېرياليستي نړۍ ليد په رڼا کې يې د ټولنې د خرافاتو او مذهب پر ضد خپله زړوره مبارزه هم جاري ساتله.
(اپيکور) چې (مارکس) د يونان له سـترو پوهانو څخه باله، د نړۍ د جوړښت په بـاره کې يې هغـه د مـادي اټومونو نظريـه نوره هم غني کړه چې (ليوکيـپ) يې اساس ايښی و او (ډيموکرېټ) يې اساسات منځ ته راوړه. (ډيموکريټ) د شکل او اندازې دوه خاصـيتونه ښـوولي وو، خو (اپيکور) د (وزن) خاصيت هم پر ور زيـات کړ چې دا کـار د اټوم پيژنـدنې پـه چـارو کې خورا مهم پرمختـګ ګڼـل ســـوی دی. (اپيکور) د اټومونو لپاره درې ډوله حرکات تشـــخيص کړي وو: يو

مستقیم حرکت چې د اټوم له وزن څخه منشا اخلي، بل متمائل حرکت چې د هغه په سلسله اټومونه یو د بل سره پیوندیږي او دریم د دفعې حرکت دی چې یو اټوم بل یوه ته ټیله ورکوي. دې ستر فیلسوف ټوله نړۍ د بیالوژیکي او سایکالوجیکي جریاناتو په شمول مادي بلله. روح یې د کوچنیو کروي اورنیو (ناری) اټومونو څخه جوړ باله چې د بدن له مړینې سره هغه ترکیب هم له منځه ځي او باقي نه پاتیږي.

(اینګلس) په خپل هغه اثر کې چې (د طبیعت ډیالیکټیک) نومیږي، د (یوجانس لایرتس) له لرغوني کتاب څخه د (اپیکور) اټومي نظریه داسې نقل کړې ده: «اټومونه په خپل سرتاسري ابدیت کې چې په دایمي حرکت کې دي... اټومونه په مساوي سرعت حرکت کوي، ځکه خلا د سپکو او درنو اټومونو لپاره یو شانته لار جوړوي... اټومونه پرته له شکل، اندازې او وزن څخه بل خصوصیت ګرد سره نلري... دوی په یوه برابره اندازه نه دي او په هېڅ صورت زموږ د حواسو په وسېله لیدل کیدای نسي.»

د (اپیکور) زیاتره آثار چې د مذهب پر ضد څرګندونې درلودې، په هماغه وخت کې د ده مخالفانو له منځه وړي دي او د ده په باره کې چې څه مستند بیانونه سته، ډېره برخه یې د ده د رومي پیرو (لیوکرشیس) لخوا څخه ثبت سوي دي. وایي چې (اپیکور) په نړۍ کې د شیانو د راتلو او له منځه تلو قانونمندي ته پام اړولی و. ده ویل چې هر شی له یو بل شي څخه را پیدا کیږي او (هېڅ) د شیانو مبدا نسي جوړولای او په دې ډول یې نو د مادې د بقا د قانون ډېرې روښانه څرګندونې منځ ته راوړې.

خوښـــي او ښـــادي (اپيکور) د ژوند طبيعي غايه ګڼله. د ده مطلب له دې څخه چړچې او عياشـی نه وې لکه ځينو کسانو چې دغه تور په ده پورې تړلی دی. د ده په نظر کې د زړه خوشالي د بدن تر هغې ډېره لوړه ګڼل کېده. ده به ويل: «موږ لـه عاقلانه، شـــريفانه او صـــادقانه ژوند څخه پرته د خوښـــی ژوند نســـو کولای.»

## تيتوس ليوکري شيس کاروس Titus Lucretius Carus ۹۸-۵۴ ق.م:

د روم پر مځکه د ماټرياليزم فلسـفي نهضـت د شـعر په بڼ کې خپلې غوړيدنې پيل کړې. (ليوکري شــيس) رومي شـــاعر و، چې په فلســـفي افکارو کې يې د اپيکور او ډيموکريټ د نظرياتو پيروي کوله او له ده څخه هغه فلسـفي شـعري اثر پاته سوی دی چې (د شيانو طبيعت De Natura Rerum) نوميږي. د ده په نظر کې هم د طبيعت ټوله نړۍ يا له جســـم او يا له خلا څخه عبارت ده. چېرې چې جسم سته، هلته خلا نسته او چيرې چې خلا سته هلته جسم نسته. د جسم د حرکت لپاره خلا لازمه ده، ځکه جسم بې له خلا څخه حرکت نسي کولای.
وايي چې د (اټوميټزم) نظريه اسـاسـاً د ده اثر په تاريخ کې ژوندی وساتله او هر وخـت يې د پوهانو توجه ځانته اړوله. د ده د اشـــعارو له جملې څخه يوه نمونه چې فلسفي مفهوم افاده کوي، منظومه پښتو ترجمه يې داسې ده:

«له هرې زمانې څخه هر يو جنس را زيږيدای سي
دا اونۍ تل تر تله پر حاصل باندې راتلای سي
ميوې يې دايمي دي، رنګارنګ شکلونه اخلي
له هر شي څخه هر شی، هميشه پيدا کېدای سي» (۴)

**نتیجه:**

ســاده یا خودبخودي ماټریالیزم چې په لرغوني زمانه کې را پیدا ســو، د علمي نړۍ لید مبادي یې د فلســفې په ســاحه کې مطرح کړه او د طبیعي واقعیتونو په وړانـدې یې د ســمې پیژنـدنې لپـاره د ډیـالیکټیکي روش مفردات هم منځ تـه راوړه. خو البتـه دغـه افکـار، چې د طبیعـت مـادي واقعیت یې د خپلې زمانې د شرایطو په محدودیت کې انعکاساوه، زیاتې نیمګړتیاوې یې هم درلودې.

اساسـي عیب یې دا و چې هغه وخت د پوهنې د حاصلولو په لار کې د تجربې او مشاهدې اسلوب انکشاف نه و کړی او یوازې د مجرد تعقل او تفکر په ساحه کې د صــوري تنظیم ســلســلې ډېر اهمیت موندلی و. نو ځکه یوازې د فکري قیاس اصول د پوهنې د حصول په چارو کې د ډاډ وړ ګڼل کېدل.

له ټولو خبرو سـره بیا هم د راتلونکو زمانو لپاره یې یو شمېر خورا مهمې پوښتنې را وړانـدې کړې، مثلاً د نړۍ پر مادي واقعیت یې رڼا واچوله، په طبیعت کې یې د حرکـت موضــوع تر غور لاندې ونیوله او د (تغیر) ډیالیکټیکي مقولې ته یې زیـاتـه توجـه واړولـه. د ایـډیالوجیکي مبارزې په جبهه کې یې د انســان بېره له طبیعي ځواکونو څخـه کمـه کړه او د هغو اســاطیري موجوداتو پـه مـاهیـت یې وپوهاوه، چې انسان د خپل تخیل په کارخانه کې جوړ کړي وو.

لنـډه دا چې دې مادي روش بت جوړونکي ته دا معنوي قدرت ور په برخه کړ، چې خپل بت مات کړي.

## ساده (یا خودبخوي) ماټریالیزم ( په منځیو پیړیو کې):

نامینالیزم، د منځنیو پیړیو په دوران کې چې د فیوډالیزم فرماسیون سلطه درلوده، د هغه ایډیالوجیکي جریانونه که په لویدیځ کې و او که په ختیځ کې، ټوله د مذهبي موسساتو تر نفوذ لاندې سوه. (افاناسیف) لیکي: «فلسفه د تیولوجۍ چوپړۍ سوه او د لرغونو فیلسوفانو ماټریالیزم هیرې ته وسپارل سو او مذهبي ایډیالیستي نړۍ لید د پیړیو لپاره ستر واک درلودئ، د دغې زمانې فلسفي جریانونه که لږ څه مشخص وکتل سي، نو دا حقیقت ډېر څرګند معلومیږي چې هم په لویدیځ او هم په ختیځ کې د (ارستو) فلسفې له مذهبي ښوونو سره دلته هلته روغه وکړه او له دې ترکیبه څخه هغه پدیده منځ ته راغله، چې په غرب کې یې د (سکولاستیسیزم) او په شرق کې یې د (علم کلام) نوم واخیستی. د (ارستو) فلسفې چې هم یې ماټریالیستي او یې ایډیالیستي عناصر درلوده او هم یې د سیاسي قدرت یوه دوره تېره کړې وه او هم لـه زیـات منطقي ترتیـب او ډیالیکټیک څخه برخورداره وه او هم یې د مذهب سره د سازش استعداد درلودئ، نو په دې شرایطو کې د پیړیو پیړیو لپاره د بې رقیبه فلسفې په توګه واکمنه پاته سوه. د پخواني ماټریالیزم عقاید یوازې د انتقاد په محکمه کې راحاضریدله او چا دا جرئت نسواى کولاى چې د هغو په دفاع کې ودریږي او یا انکشاف ورکړي. د (ارستو) د فلسفې په تقلید هر چیرې د فیلسوفانو او پوهانو لومړنی تنقید، د ډیموکریټ د (اټوم) تجزیې تـه متوجـه و، ځکـه هغـه خپـل

اټومونـه غير قـابل تجزيه اعلان کړي وو. د اټومونو پر ځای (ارســـتو) د طبيعت نړۍ له (هيولی) څخه جوړه بلله، چې هغه بيلابيل (صـورتونه) اخيسـتلای سـي. (ارستو) تر سپوږمۍ را لاندې نړۍ د اوبو، اور، خاورې او هوا له څلورو عناصرو څخه جوړه بلله او تر هغې پاس نړۍ یې له (ايتره) څخه ډکه ګڼله. په اصـــل کې چې د مذهب ډېره کرکه ځنې کېده، هغه د (اټوم) يا مادې له ابديته څخه وه. که څه هم (ارسـتو) دغه د ابديت خاصيت په مرموزه توګه (هيولی) ته ور نقل کړی و. په هر صورت (سکولاستيسيزم) پر بشـري ذهن باندې د ډېر وخت لپاره مطلق مسلط پاته سو.

د فيوډاليزم ايـډيـالوجيکي کلاوې کـه څـه هم ډېرې ټينګې وې او ټولې هغـه چولې يې بندې کړي وې، چې د هغو له لارې د انسان ذهن ته د ماټرياليزم رڼا ور نســـي. خو بيا هم څرنګه چې ماټرياليزم د ژوند د مبارزې له پلوه يوه طبيعي پـديـده وه، نو ځکه دا کلاوې وخت په وخت ټينګې نه پاتيدې او دلته و هلته د ماټرياليزم نخرې پکې کيدلې.

هغـه مـاټرياليزم چې په دغه دوران کې يې ژوند درلودئ او عموماً يې د مذهبي محـدوديتونو پـه مقـابل کې د يو عکس العمل په توګه تبارز کاوه، زياتره يې په شرق کې د (دهريت) نوم وړی دی. څرنګه چې د دهريت لپاره مساعده سياسي فضـا نه وه موجوده، نو د يو منظم فکري سـيسـتم په توګه يې انکشـاف نه دی کړی او هر وخت کوټل سوی يا له منځه وړل سوی دی. خو د تبارز مخه يې په هيڅ وخت کې نه ده نيول سوي، ځکه هر وخت په ټولنه کې د طبقاتي مبارزاتو جريانو د ده د راپيدا کېدو ضـرورت ژوندی سـاتلی دی. (دهريت) ته چې کتل کيږي، هر کله يې د مذهبي عقايدو سـره د مقابلې او تصادم په شکل خپل ځان

ښرګند کړی دی. دا خبره باید دلته یاده کړم چې زموږ ځوانو څیړونکو ته په کار ده چې د (دهریت) بیلابیل نهضتونه وپلټي او هغه مرتب کړي، څو په دې وسیله زموږ په سیمه کې د اجتماعي شعور د دغې برخې تاریخي خلا ډکه کړي. خو هغه فلسفي دکتورین چې په لویدیځ کې یې د ماټریالیزم رسالت واخیستی د (نامینالیزم) په نامه ثبت سوی دی. دې لغت د Nomen یوناني کلمې څخه ریښه اخیستي ده، چې معنی یې (نوم) دی. په منځنیو پیړیو کې دغه نوم د هغه فلسفي مسلک لپاره استعمال سو، چې وایي عمومي مفاهیم تش د متشابه شیانو نومونه دي او کوم واقعیت نه تمثیلوي.

(مارکس) په خپل هغه اثر کې چې (مقدسه کورنۍ) نومیږي، د دې دکتورین په باره کې داسې وایي: «ماټریالیزم د لویې برطانیې اصلي زوی دی. پخوا لا د (علم کلام) برطانوي استاد چې (دنزسکاتس) نومیدئ، دا پوښتنه منځ ته راوړې وه، چې: ایا ماده فکر نسي کولای؟

د دې لپاره چې دغه معجزه سرته ورسوي، نو یې د خدای توفیق ته لاس واچاوه، یعنې تیولوجي یې په خپله دې ته وګمارله چې ماټریالیزم تبلیغ کړي. سربېره پر دې همدغه استاد (یوانامینالست) و. (نامینادلیزم) د انګلیسي ماټریالیزم اصلي جزء او په عمومي توګه د ماټریالیزم لومړنی ښرګندوی دی.

د دې لپاره چې د (نامینالیزم) ماټریالیستي خصلت وښوول سي، نو باید خبره له دې ځایه څخه راوموښلوو چې دغه دکتورین د شکاکیت یو جریان و او د هغو اساساتو او هویتونو د واقعیت په نسبت یې شکونه را پارول چې د منځنیو پیړیو ایډیالوجیکي مؤسسات پر ولاړ و. دوی دغه راز شیان چې تش نوم ولري واقعیتونه نه بلل، بلکې هغه څه یې واقعیتونه ګڼل چې تماس ورسره نیول کیږي.

په دې اســاس نو که څوک یو شــی موجود وبولي او د هغه نمانځنه، درناوی یا اطاعت کوي، دا نو د مذهب پر اساس عقیده لري چې واقعیت دغه شان دی او عقـل او تماس په دې مورد کې هېڅ نقش نلري. د منځنیو پیړیو فکر، مذهب او ټولنیز ژونـد ټوله دغه راز واقعیتونه بلل ســوې وه. نو ځکه نامینالیزم ویل چې دا نومونه یا کلمات دي او که چیرې واقعیتونه ګڼل کیږي، نو اثبات پرته له (وحې) په بل ډول سرته نه رسیږي.

(نـامینالیزم) په ډېر ټینګار خپل پالونکي دې ته متوجه کول، چې یوازې هغه څه ومني چې د مشـخص تماس په وسـېله حاصـلیږي او کُلي مفاهیمو ته چې تش نومونـه دي، پـه عیني حقیقت قائل نســـــــي. په دې ډول نو خورا ډېر مذهبي هویتونـه تر دغه دوهم حکم لاندې راتله او دې دکتورین زیاتره د شــکاکي په دریځ کې د ماټریالیزم تاریخي وظیفه سـرته رسـوله. دا مسـلک چې په ځان کې یې علمي خصوصیات درلودل، په دیارلسمه پیړۍ کې یې ډېر قوت واخیستئ او د هغو کسـانو په پله کې دریدئ چې غوښـته یې، د عقل په نامه طبیعي شـیان له مـافوق طبیعي څخـه را بیل کړي او تلاښ یې کاوه چې د مافوق طبیعي پر ځای واقعي نړۍ په حقیقي معنی وپیژني. د دې مسـلک له مشـهورو کسـانو څخه یو څو تنه په لاندې توګه معرفي کیږي.

## روسیلین Roscrlin ۱۰۵۰- ۱۱۲۰ م

دا د فرانســې د (بریتانیې) د ســیمې د (تور) د ښــار هغه فیلســوف دی چې د (نامینالیزم) د مکتب مؤسـس ګڼل سوی دی. ده په خپل مسلک کې ډېر پیروان او شـاګردان درلودل او د (ارسـتو) د طرز ښـوونځی یې جوړ کړی و چې په دې

سبب د (لیسې) د سیستم مؤسس بلل کیدئ. وایي چې ده د (ارستو) آثار ترجمه کړي و اما په خپله یې څه نه دي لیکلي. (روسیلین) د خپلو نظریاتو په باره کې په خوله بیان کاوه. د ده دکتورین د مخالفانو له انتقادي څرگندونو څخه پوره معلومیږي چې دی نامینالیست بولي او وایي چې کُلي مفاهیمو ته یې د عیني واقعیتونو په توگه عقیده نه درلوده. روسیلین ویل چې کُلي یا عمومي افکار په اصل کې تش کلمات او نومونه دي، چې انسانانو پر مشخصو شیانو باندې ایښې دي. په واقعیت کې یوازې همدغه مشخص او جزیي شیان دي چې حقیقي موجودیت لري. څرنگه چې ده کلیات ردول او جبرئیات یې اصل بلل، نو هغه مسیحي عقاید یې نه منل چې د ښښتن په واحدانیت کې یې تثلیث ته هم ځای ورکاوه او اثبات ته یې رساوه. روسیلین ویل که درې شخصیته موجود وي، نو بیا توحید نه ورسره تطبیق کیږي.

د ده مبارزې د هغه تیولوجیکي مکتب پر ضد چې د (ریالیزم) په نامه یادیدئ او د انسلیم له خوا منځ ته راغلی و، خپل اوج ته ورسیدې. روسیلین د خپلو عقایدو په گناه وغندل سو او دې ته یې مجبوره کړ چې خپلې څرگندونې واخلي. خو سربېره پر دې هم خپلو نظریاتو ته وفاداره پاته سو او هم یې د ژوند تر پایه خپلو ښوونو ته ادامه ورکوله.

## پیتر ابیلارد Peter Abelard ۱۰۷۹-۱۱۴۲ - م

دغه فرانسوی شخصیت چې د روسیلین شاگرد و، د نامینالیزم په لار کې ډېر مخ ته ولاړئ. د ده دکتورین د (**Conceptualism**) په نامه یاد سوی دی. څکه ده د عمومي مفاهیمو لپاره افاده کوونکي کلمات د افراطي نامینالیزم په اساس پر

یوه مخ نه ردول او هغو ته یې د انسـان په نسبت عیني ارزښت ورکاوه او د شیانو د ځینو خواصــو په څرګندونه کې یې ګټور بلله. دغه غوښــتنه چې دین باید په عقل ثابت سي، نه دا چې عقل په دین ثابتیږي او دا هغه راز مسلک دی چې په اسـلام کې د (معتزله) و له نهضـت سـره سـمون خوړلای سـي. د دې نظریې په اساس نو ده تیولوجي له فلسفې سره یو شی کوله او قدرت ته یې مراجعه کموله. دا نو هغه کار و چې د کلیسا غضب یې د ده د افکارو په مقابل کې را وپاراوه.

## ویلیام اف اوکام ۱۲۸۰- ۱۳۴۹ م

دغه انګلیســــي پوه چې په اکسپوږډ کې یې خپل تحصیلات سرته رسولي و له سـترو نامینالسـتانو څخه تېر سوی دی. په دې دکتورین کې یې افراطي جناح نه تعقیبولـه، بلکې زیـار یې ایســتئ چې علمي موازینو تـه نژدې خپـل نظریـات وړانـدې کړي. څرنګـه چې د (ویلیام اف اوکام) نامینالیزم د دې نړۍ رنګارنګ پدیدو ته زیاته توجه اړوله او د دې نړۍ په چارو کې یې ډېره علاقه اخیســته، نو دی د علمي او دنیوي فلسـفې طبیعي ملګری سـو. د علمي انکشـاف لپاره د ده هغه (فکري اصــل) غټ اهمیت درلودئ چې د (داوکام د تیغ) په نامه وپیژندل سـو. له دې اصـل څخه مقصد په فکر کې مقصد، په فکر کې سپما وه چې باید بې ضــرورته ذهن په تخیلي هویتونو چې واقعیت ونلري، ډک نســــــي. د ټولو تشــــریحاتو له جملې څخه هغه څه باید ومنل سي چې ساده او بسیط وي. کله چې د یو څو علتونو او ځواکونو پـه څرګنـدولو ســره ضــرورت پوره کیږي، نو زیات شمېر ګماني سببونه له ځانه جوړول یوه اشتباه ده. د دې خبرې مفهوم یې

دا و چې کله د یوه فرضي هویت په پرتله تړوله حقایق تـــشریح کیدای سي، نو د هغه د فرضولو لپاره هیڅ دلیل نه لیدل کیږي.

د پوهنې د تیوری په برخه کې د استقرأ پر خوا و او استقرایي تماس یې مستقیماً د عیني او مادي شــیانو پوهنه بلله. (اوکام) دا نه منله چې د مذهب عنصــــــري عقاید د عقل په وسـېله اثبات ته رسیدای سـي. ده ویل د ښبتن مفهوم هم لکه نور عمومي مفاهیم نیمګړتیا لري او خپل موجودیت نـــسـي ثابتولای، له منطق څخه (الهیات) نه راوزي.

په داسـې حال کې چې (اوکام) او د ده پیروانو لکه نورو نامینالیستانو هغه قدرت ته عقیده درلوده چې د عقل په اسـاس یې نسوای منلای، اما نورو کسانو بیا د ده لـه نظریـاتو څخـه بل راز نتایج واخیســتل او دا مفکوره یې رد کړه چې پر ځینو حقـایقو بـانـدې پرتـه لـه دې چې هغـه معقول وي او که نه وي، باید موږ عقیده ولرو. په نتیجه کې نو د مذهب په نسـبت شـکاکیت را پیدا سو. د دې جریان بله مهمه نتیجه دا ســوه چې د علمي پوهنې یوې داســې ځانګې رشــد وکړ چې له مذهبي وړه څخه خلاصـه وه، ځکه عقیده یوه داسې غیر عقلي برخه وګڼل سوه چې لازمه نه ده د ساینس له حقایقو سره هم آهنګي ولري.

**نتیجه:**

د منځنیو پیړیو په اخرو وختونو کې د فکر داســې جریانونه را پیدا ســول چې د یوه راتلونکي فلســفي انقلاب لپاره لاره هواره کړي. له دغو جریانو څخه یو هم د نامینالیزم جریان و. د دې مکتب مبارزه د هغه مذهبي دکتورین سـره چې کُلي مفاهیم یې واقعي (ریالسـتي) هویتونه بلل او پر ده باندې د (ریالیزم) (غلط) نوم

ایښـــوول ســـوی و، داســـې ښـــکـاريـده لکـه دا مبـارزه چې یوازینی علمي او اکـاډیمیـک حیثیـت لري. خو پـه حقیقـت کې د دې مبارزې منشـــا د ټولنې په تاریخي حرکت کې وه او د دغو تیوریگانو ترمنځ شـخړو رښـتیا هم د واقعیت د ماهیت په باب چې ډېر عملي اهمیت یې درلودئ، دوه متضاد نظرونه تمثیلول.
څرنگه چې د فیوډالیزم علمي موســـســـه د تیولوجي په چوکاټ کې دننه تنظیم ســـوې وه، نو ځکه د مذهبي عقایدو ســـره د مخالفت بیرغ هم په خپله مذهبي پوهانو پورته کاوه او کفر د کلیســا په ســاحه کې انکشــاف کاوه. دغه دلیل دی چې د نامینالیزم زیاتره نمایندگان د مذهبي موســـســـاتو نماینده گان وو، دا چې نامینالیزم د منظم او سوچه ماټریالیزم په توگه وده ونکړه، ښایي چې یو علت یې هم دا و چې هلته یې د غوړیدو شـــرایط نه برابریده او د هرې فلســـفې او علمي عقیدې اظهار له شـدیدو مجازاتو ســره مخامخ کیدئ. خو له ټولو خبرو ســره د نامینالیزم دکتورین د مذهب دریځ د عقل په مقابل کې کمزوری کړ او د کلیســا په پاچاهۍ کې یې د علم بغاوت ژوندۍ وساتئ.
پـه منځنیو پیړیو کې د فلســـفې د تـاریخ مطـالعـه د نـامینـالیزم او ریـالیزم ترمنځ مبارزې راښـــیي، چې د تیوري له پلوه دغه شـــخړې ځینې پوهانو د ماټریالیزم او ایډیالیزم ترمنځ په تاریخي مبارزو سره تفسر کړې دي.
سربیره پر هغو کسانو چې د نامینالیزم د سترو فیلسوفانو په توگه موږ معرفي کړل، نور هم زیات شمېر پوهان تېر سوي دي چې د هغو په سلسله کې د (اریک اف اکســـیـر **Eric of Auxerreo** – ۸۳۷ – ۸۸۱)، (ســـایـگراف برابـان **Siger Beahbant** ۱۲۴۰-۱۲۸۳ م)، (ډنزسکاتس **Duns Scottus** ۱۲۷۰-۱۳۰۸-م)، (جـان بوریدان **John Buridan** ۱۳۰۰-۱۳۵۹) او (پیردوالي **Pierre d’Ailly**

۱۳۵۰-۱۴۲۵ م) نومونـه د یـادونې وړ دي. د دوی لـه جملې څخه هر یوه ځانته کـارنامې برغولي دي. په ختيځ کې هم ځینې فیلســوفان چې د مذهبي ایډیالیزم سـره یې ماټریالیستي عناصر په افکارو کې پیدا کېده، له دغې مقولې څخه ګڼل کیدای سي.

نامینالیزم د ماټریالیزم د لومړني اصـولي شـکل په توګه دا تاریـخي رسـالت سرته ورسـاوه چې عقلي فلسـفه یې د نقلي عقایدو له اغیزې څخه راویسـتله او د دې لپـاره یې زمینـه مســاعـده کړه چې د تجربوي پوهنې په اســاس واقعي طبیعت پېژندنه منځ ته راسي او د ماټریالیستي نړۍ لید لپاره مقدمات تهیه سي.

## میکانیکي ماټریالیزم (یا میتافزیکي ماټریالیزم)

هغه زمانه راورسیده چې د ټولنې د تاریخي سیر په سلسله کې د بورژوا طبقې لومړني اسلاف وزیږیده. د اقتصاد په ساحه کې د صنایعو هغه انکشافات منځ ته راغله چې (مارکس) د (ساده همکارۍ) نوم پر ایښی دی. ساینس (یعنې واقعي طبیعي علوم) چې د پنځلسمې پیړۍ له دوهمې نیمایي څخه یې پیلامه کښیښول سوه، ورځ په ورځ د تولیدي وسایلو او تولیدي محصولاتو په خدمت کې ګمارل کېدله. هغه یو لړ علمي او هنري نهضتونه چې د رنسانس په نامه د څوارلسمې پیړۍ په دوران کې را شروع سوي وو، ورځ په ورځ یې وده کوله. د اروپا د اقتصادي فعالیتونو دې ته مخه وه، چې له فیوډالي روابطو څخه ځان وباسي او د نوي روابطو په ساحه کې ځان تنظیم کړي. دې تحول ایجابوله چې د ژوند ټوله مؤسسات دې ته اماده سي، چې له پخواني حالته څخه تغیر وخوري.

د اجتماعي هستۍ او اجتماعي شعور په ساحو کې دغه یو سلسله بدلونونه ول چې د بشري تاریخ پاڼه یې وړاوله. په دې ترڅ کې نو د ژوند د ټولنیزو انکشافاتو او احتیاجاتو له مخې دا ناممکنه سوه چې د انسان طبیعت پېژندنه

نوره هم د فیوډالي فرماسیون په مذهبي انضباط کې محدوده او نیمګړې پاته سي او بیګانه شیان ورځنې ونه وزي.
د افکارو په نړۍ کې ډېر غټ تحول چې د فیوډالي او منځنیو پیړیو ټوله کلک نظري او فلسفي سیستمونه یې له ریښو څخه ټکاني کړل، هغه د (کوپرنیک Copernicus ۱۴۷۳- ۱۵۴۳ –م) نظریه وه. په ۱۵۴۳ کال کې دغه اویا کلن پولنډی سپین ږیری چې د مرګ په بسترګي پروت و، د ده د هغه کتاب چاپ سوې لومړۍ نسخه یې ورته راوړه، چې په دې نامه یې لیکلي وه.
(د اسماني اجرامو د حرکاتو په باره کې) دا کتاب نه یوازې په نجومي نظریاتو کې د تحول نقطه وه، بلکې د بشري فکر ټوله سلسله یې پر دا بله خوا راواړوله. ځکه د (ګالیله) او (نیوټن) علمي تیوري ګانې چې د (کوپرنیک) له فرضیې څخه راووتلې، نړۍ یې انسان ته د یوه لوی ماشین په توګه تصویر کړه او د کایناتو د نظام په باب د منځنیو پیړیو ټوله افسانوي فلسفې یې باطلې او له اعتباره واچولې.

**فرانسیس بیکن Francis Bacon ۱۵٦۱- ۱٦۲٦ –م**

(بیکن) چې د انګلستان ستر سیاستمدار، لوی قانون پوه، پیاوړی لیکوال او ماټریالیسټ فیلسوف و، د لومړي ځل لپاره یې د پرمختګ مفهوم نه یوازې په خورا څرګندو الفاظو کې، بلکې د یوه داسې عجیب روښانه مثال په توګه وښووئ، چې د اولسمې، اتلسمې او نولسمې پیړۍ په دوران کې یې ډېر تاثیر او نفوذ درلودئ. دی په خپل هغه اثر کې چې د (نوي اتلانتیس The New Atlantis) په نامه په ۱٦۲۷ کال کې خپور سو، داسې بیان کوي: د یوې کښتۍ

عمله چې په دریاب کې یې لار ورکه کړې وه، یوې نامعلومې مځکې ته راغله چې هلته یو ولس خورا ډېر خوشاله ژوند کاوه. د دوی د خوشاله ژوند رمز په دې کې ښکاریدئ چې د دوی په حکومت کې سیاسي کسان نه وو، بلکې یوازې جیالوجي پوهان، بیالوجي پوهان، کیمیا پوهان، ټولنپوهان، اقتصاد پوهان او فیلسوفان وو، رشتیا هم د حکومت ساحه بیخي وړه وه، ځکه دوی ټوله یو مخیزه په دې لګیا وو چې طبیعت اداره کړي او د انسانانو اداره یې په غاړه کې نه وه لویدلي، د دې نوی نظام پرنسیپ دا و چې «د شیانو علتونه او حرکتونه وپیژندل سي او د بشري امپراطورۍ حدود تر ټولو ممکنو شیانو پورې وغزول سي او پراختیا ورکول سي.»
(بیکن) چې د کمبریج محصل و، په هغه وخت کې یې لا د (سکولاستیک) فلسفې په مقابل کې بغاوت کړی و. دغه فلسفه ده ته ګټوره نه معلومېده. علمي وړاندې تګ د نړۍ لپاره ډېر کار کولای سي. چاپ، باروت او قطب نما دا هغه قواوې وې چې بشري ژوند ته یې حرکت او تغیر ورکاوه. فلسفه په هغه شکل چې موجوده وه، عملا د زده کړې او تمدن د پرمختګ په لار کې خنډ واقع کیده او باید چې د خپلو پوچو مباحثاتو، مشاجراتو او اوږدو مقالاتو سره له منځه ویستل سوي وای.
(بیکن) په خپل هغه اثر کې چې (د زده کړې پرمختګ) نومیږي، د زړې فلسفې په باب داسې لیکي: «دغه منحطه پوهنه اساساً د هغو مدرسینو په منځ کې خپره ده، چې تیز او غښتلي فکرونه او خورا زیات فارغه وختونه لري. خو د دوی په مطالعه کې ډېر بدلون نه راځي. (او د دوی فکرونه د یو څو مؤلفانو په زیاته بیا د ارستو په حجرو کې هغه شیان بندیان دي، لکه بدنونه چې یې د معابدو او

مـدرســـو پـه حجرو کې بنـديان دي). دوی نه د طبيعت او نه د زمان د تاريخ په باب کې په څه پوهيږي او د مادې د زيات مقدار او د فکر د نامحدوده هيجاناتو له جملې څخه دوی موږ ته يوازې د پوهنې هغه ډېرې په خواری جوړې ســوې بې ارزښـه تانسـتې اوبي چې کتابونه يې په ډک دي. ځکه فکر او ذهن چې کله پر ماده کار کوي، يعنې د خدای د موجوداتو په باب کې چورت وهي نو د دغو موادو د سره سـم کار کوي او نو په همدې سبب محدوديت لري. خو کله چې پر ځان کار کوي، نو د عنکبوت په شـان د خپلو تارو شـبکه جوړوي. دا نو پای نلري او رښــتيا هم د پوهنې دغه راز شــبکې منځ ته راوړي چې د تارو د نازک والي او د کار د ښـه والي له پلوه په سـتاينه ارزي، خو هېڅ جوهر يا گټه نه پکې مونده کيږي.»

(بيکن)، (اپلاتون) او (ارسـتو) دواړه د خپلې غندنې په سـاحه کې راکښـېنسـته. حقيقت د ذهن بومي اوســيدونکی نه دی، لکه (اپلاتون) چې فکر کاوه، بلکې هغه له د باندې څخه د مشاهدې او تماس پر لاره راځي. کله چې فلسفه له خپلو ريښـو څخه چې په تجربه کې ځای لري، رابېله سـي، نو يوه مړه هسـتي ورځني جوړيږي، ځکه نو يوې نوي فلسفې ته اړتيا ليده کيږي.

**١- «يوازې د عقيدې لرل نه دي په کار، بلکې يو کار بايد وسي»**

**٢- يوازې مجرد حقيقـت نـه دی پـه کـار، بلکې پر طبيعـت باندې بايد حاکميت قايم سي.**

**٣- يوازې له نا ازمويل سوو لومړنيو اصولو څخه د قياس منطقې نتايج نه دی** په کار، بلکې طبيعت بايد وپلټل سي چې د نړۍ تغير ته لارښوونه کوي.

صــرف هغـه وخـت چې انســـان پر طبيعـت باندې د كار كولو او هغه ته د تغير وركولو له لارې حاصـله سوې زده كړه پوهنه وبولي؛ نو فلسفه به موږ ته دا خبره وښـيي چې ژوند د اوښـكو شـيله نه ده. دا خبره به نو تر هغه ځايه حقيقت لري، لكه څونه چې موږ طبيعت دې ته عيارولاى سو چې ښه كار وكړي.

د استدلال دغه نوې طريقه بايد په شك شروع سي او په دې لړ كې هغه لومړنى اصـول تر ازموينه لاندې سـي چې بيله پلټنې څخه منل سـوي دي او هغه پوهنه ترديد سي چې د تجربې په اساس اثبات ته نه رسيږي. خو شك د شك لپاره نه دى، يعنې په دې منظور نه دى، چې شـك تر پوهنې ترجيع لري. «كه انســان په يقينياتو شـروع وكړي، نو په پاى كې به شـك ته ورسيږي، خو كه په دې راضي سي چې په شك شروع وكړي، نو نه يقينياتو ته ورسيږي.»

دى وايي چې خپور ســوى شـــكاكيت له فكري او نظري روشـــو څخه منځ ته راغى. پـه تيوريكي ډول دا پوښـــتنـه چې ايـا انســـان حقيقـت پيژندلاى ســـي؟ شكاكيت او عطالت منځ ته راولي. مباحثه بس كړئ او په كار لاس پورې كړئ» د حقيقـت د مســئلې پـه نســبـت د نظري ځواب پر ځاى يو عملي او تاريخي ځواب ولټوئ. دا چې تاسې پوهيدلاى سئ او څونه پوهيدلاى سئ له هغه څخه معلوميداى سي چې تاسې څونه كار كولاى سئ. (٦)

(ماركس) ليكي: «د انگريزي ماټرياليزم او ټوله عصـري تجربوي ساينس واقعي مؤســس (بيكن) و. ده طبيعي سـاينس ريښـتونى ساينس باله او فيزيك چې پر حسـي درك را بنا دى، د طبيعي ساينس د ډېرې مهمې برخې په سترگه يې ورته كتله. دى (اناكساگوراس) او د هغه (هوميو ميري) ته او همدارنگه (ډيموكريټ) او د هغـه اټومونو تـه زيـاتره پـه خپلو خبرو كې د معتبرو موادو پـه توگه مراجعه

کوي. د ده له تعلیماتو سره سم حواس یقیني نتایجو ته سړي رسوي او د ټولې پوهنې منبع ګڼل کیږي. ساینس پر تجربه ولاړ دی او له دې څخه جوړیږي چې د حواسو له لارې تهیه سوي معلومات د پلټنې تر عقلي میتود وزي. استقرأ، تحلیل، مقایسه، مشاهده او تجربه د عقلي میتود اساسي لوازم دي. د هغو صفاتو او خواصو په جمله کې چې د مادې په ذات کې اخښلي دي، حرکت تر ټولو مقدم او ډېر مهم دی او دا حرکت نه یوازې میکانیکي او یا ریاضیاتي شکل لري، بلکې سربیره پر هغه د مادې د یو غونځیدو د یو حیاتي روح د یو انبساط، یا د (جاکوب بومي) په خوله د (لنګون د چړکې) په توګه موجودیت لري.» (۷)
افاناسیف لیکي: «د نوی عصر د ماټریالیزم لومړنی نماینده انګلیسي فیلسوف فرانسیس بیکن و. ده د ایډیالیزم او مذهب سره شدید مخالفت کاوه او پر دې خبره ولاړ و چې د فلسفې او په عمومي توګه د ساینس وظیفه دا ده چې طبیعت وپیژني او له انسانه سره کومک وکړي چې د هغه پر قواوو تسلط ومومي. بیکن په داسې حال کې چې د نړۍ مادي ماهیت پیژندلی و، دا فکر یې کاوه چې ماده په خپله کیفي تنوع کې پای نلري. (بیکن) د سرې او زرغونې په ټولو رنګو سره ماده وځلوله او لکه مارکس چې وایي په خپله شاعرانه حسي ځلا کې انسان ته موسکا کوي.
بیکن د طبیعت د مطالعې هغه میتود په فلسفي توګه وښووئ، چې په عام ډول د ده د زمانې د ساینس پوهانو له خوا څخه په کار اچول کیدئ. ده ویل که څوک غواړي چې پوه سي، نو باید تجربه وکړي، مشاهده وکړي، حقایق تحلیل کړي او بیا نو له جزیي حقایقو او شیانو څخه تعمیماتو او نتایجو ته ورسیږي. له جزیي حقایقو څخه تعمیم (کُلي حکم) ته حرکت د (استقراء) په نامه یادیږي.

بیکن د تجربوي ساینس او د پوهنې د استقرایي طریقې پلار دی او په همدغه وسیله یې د فلسفي فکر له انکشافه سره مرسته وکړه. خو بیکن استقراء مطلقه کړه او د هغې مقابله طریقه چې قیاس (یا تعلیل) نومیږي او په دې وسیله د کُلي احکامو پر اساس د جزیي حقایقو په اساس د جزیي حقایقو په باره کې نتایج را ایستل کیږي، پر یوه مخ له نظره واچوله.» (۵)

د فردوسي دا شعر چې (توانا بود هر که دانا بود) د بیکن په فلسفي ادبیاتو کې په دې ډول بیا منځ ته راغی چې (پوهنه قوت دی).

(بیکن) په اوولسمه پیړۍ کې ماټریالیزم ته ډېر انکشاف ور په برخه کړ، خو هغه یو اړخیزه، تجریدي او میکانیکي چلند چې د علمي پلټنو په مورد کې یې په کار اچاوه، فلسفې ته یې هم راوستئ او په همدې اساس د فلسفې زیاتره پوښتنې بې ځوابه ځني پاته سوې. مارکس د بیکن د فلسفې د نیمګړتیاوو په باره کې داسې وایي: «هغه ماټریالیزم چې بیکن یې اساس کښیښووئ، د څو اړخیزه انکشاف زونې یې په ځان کې درلودې، هلته له یوې خوا ماده چې حسي لذاتو او شاعرانه جذابیت پوښلي ده، داسې ایسي چې د انسان ټوله هستي په زړه وړونکي موسکا ځانته ورکشوي. خو له بلې خوا بیا په لنډو حکیمانه جملو کې تدوین سوی دکتورین له هغو تناقضاتو څخه ډک دی چې له مذهبي تعلیماتو څخه ورته راغلي دي. (۷)

### توماس هابز Thoms Hobbes ۱۵۱۸ – ۱٦۷۹ – م

انګلیسي ماټریالیزم چې بیکن را پیل کړی و، د (هابز) لخوا نور هم تر تنظیم لاندې راغی. دوی خپل ترمنځ سره پیژنده او تعلقات یې هم درلوده. هابز په

طبيعت کې ټوله اجسام د ژونديو موجوداتو په شمول د ميکانيکي ماشينانو سره يو شی ګڼله. ده ليکلي دي چې زړه يو پنر دی، اعصاب تارونه دي او مفاصل اربې دي چې ټوله بدن ته حرکت کوي. (هابز) د څښتن مساله د خپل سيستمه څخه وايسته او ويل يې چې دا د ساينس موضوع نده، بلکې د عقيدې سره اړه لري. ده د (بابيل) په ارتباط ډېرې پوښتنې را پيدا کړې او په دې موضوع کې يې د انتقادي څېړونو انکشاف منځ ته راوستئ.

(خارين) د ده په باب يوه لنډه او جامع څېړنه داسې ليکلي ده: «هابز د ايډياليزم، تيولوجی او سکولاستيکي تعليماتو په مقابل کې يوه کلکه مبارزه شروع کړه. دا مفکوره يې رد کړه چې څښتن موجوديت لري او روح نه فاني کيږي. ده نړی د يوه واحد مادي جوهر په توګه درک کړې وه. ماده ابدي ده او بېلابيل اجسام چې له هغې څخه جوړيږي، موقتي دي: دوی وجود ته راځي او بيرته له منځه ځي. ده مادې ته په داسې سترګه کتله چې په کيفي لحاظ متجانسه ده. مادي اجسام يوازې د امتداد، وزن، حجم، شکل او نورو مقداري اندازو د خواصو له مخې مشخص کيږي. حرکت د مادې يو خاصيت دی. خو هابز حرکت يوازې په يوه شکل پيژندئ، يعنې د اجسامو هغه ساده ميکانيکي انتقال چې د مکان په ساحه کې سرته رسيږي. ده انسان (او همدارنګه نور ټوله طبيعي اجسام) د يو ميکانيزم سره مشابه باله، چې په دې سلسله کې يې زړه له پنر، اعصاب له تارو، مفاصيل د اربو او داسې نورو سره مقايسه کوله.

د ده په نظر کې دولت داسی شی و چې انسان په خپله ايجاد کړی دی او له دې موافقې څخه منځ ته راغلی دی چې په معقول صورت خپل طبيعي حقوق د دې لپاره محدود کړي چې عمومي امن لاس ته راوړي. دولت هم دغسې يو

میکانیزم و لکه یو ځانګړی فرد چې د هغه روح ستر واک، مفاصل یې عدلي او اجرایي اورګانونه، اعصاب یې مکافات او مجازات او داسې نور بلل کیږي. ده عقیده درلوده چې مادي نړۍ پېژندل کیدای سي. حقیقت د فکر له لارې او د منطقي استدلال یعنې د عقلي تفکر د میتودونو په وسیله لاس ته راوړل کیدای سي. خو ده عقلي تفکر ته د ساده میکانیکي عملیاتو په سترګه کتل او په دې عقیده و چې په ټولو طبیعي او اجتماعي پدیدو کې د تفریق او جمع عملیې شاملې دي.» (۸)

مارکس هغه فلسفي انکشاف چې د بیکن د فلسفې په تعقیب د (هابز) لخوا سرته ورسیدئ، په دې ډول څیړلی دی: «د بیکن ماټریالیزم نو د نور انکشاف په سلسله یو اړخیزه لار واخیستله. (هابز) هغه څوک و چې د بیکن ماټریالیزم ته یې سر و صورت ورکړ. پوهنه چې پر حواسو را بنا وه، خپله شاعرانه شګوفه یې ورژوله او د ریاضي د عالم مجرده فکري معامله ځني جوړه سوه. فیزیکي حرکت تر میکانیکي یا ریاضیاتي حرکت قربان سو. د دې لپاره چې غیر انساني بې جسمه (روحاني فلسفه **Spiritualism**) د هغې په خپله ساحه کې مغلوب کړي، نو ماټریالیزم مجبوره سو چې خپل بدن هم وخوري او له ځانه څخه ډنګر مرتاض جوړ کړي. په دې ډول نو ماټریالیزم له حسي هویت څخه ووتئ او فکري هویت یې واخیستئ او همدارنګه بیله دې څخه چې عواقبو ته پام واړوي، هغه ټینګ او کلک روش ته یې انکشاف ورکړ چې د فکري جریان له مشخصاتو څخه ګټل کیږي.

(هابز) د بیکن د فلسفې په ادامه داسې استدلال کوي چې د انسان ټوله پوهنه څرنګه چې د هغه د حواسو له خوا څخه تهیه کیږي، نو زموږ ټوله مفاهیم

تصــورات او افکار یوازې د واقعي او مادي نړی هغه مجرد تخیلي اشــباح دي چې د خپلو حســــي اشـکالو له پوښـه څخه راوتلي دي. فلسـفه یوازې پر دغو تخیلي اشباحو باندې نوم ایښوولای سي....

.... هر انساني میلان یو میکانیکي حرکت دی چې هم ابتداء لري او هم انتها..... انســان کټ مټ تر هغو قوانینو لاندې دی، لکه پر طبیعت چې چلیږي... (هابز) د بیکن فلسـفه سـمبال کړه، خو د دې فلسـفې هغه بنیادي اصل یې ثبوت ته ونه رسـاوه چې وایي ټولې بشــــري پوهنې د حس له نړی څخه منشــأ اخیسـتي ده....(هـابز) هغـه مـذهبي تمایلات چې د بیکن په ماټریالیزم کې موجود وو، له منځه یووړه.» (۳)

## سپینوزا، باروخ Spinoza Baruch

(ســـپینوزا) یهود زیږیـدلی و، خو دغـه مـذهـب چې د زوکړې تـاریخي جبر وربـانـدې تحمیـل کړی و، د عقـل پـه رڼـا کې یې پریښــوود. د ده کورنی له هسپانیې څخه هالنډ ته ولاړه، ځو (د عقایدو د تفتیش) له ځارنې څخه وژغورل سي. د عمر په درې دیرش کلنی کې یې خپل هغه فلسفي اثر بشپړتیا ته ورساوه چې (د اخلاقي اصــولو Ethics) پـه نـامه یادیږي. دا کتاب یې په لاتیني ژبه په سـکولاسـتیک اصـطلاحاتو او د ریاضي ثبوتونو په شکل وکښئ چې د هر ډول ابهام مخه ونیسي.

ده نړی ته د یوه واحد کُلي جوهر په ســترګه کتله چې هغه لایتناهي او ابدي ده. دی دغه واحد جوهر ته په دوه خصـوصیته قایل و چې یو یې (امتداد) او بل یې (تفکر) دی. پر یوه جوهر او د دوو خصـوصـیاتو سـربیره یې د (طرز) مقوله هم

زياته کړې وه او له يوه جوهره څخه راجوړ ســوي بيلابيل شــيان يې د (طرز نو) په نامه يادوله. مثلاً انســان يې د موجوديت يو (طرز) گاڼه. (طرز) د ســپينوزا په نظر کې د شي يا پيښې هغه ځانگړی حالت دی چې واقعيت يې په موقتي توگه د ځان لپاره اخلي.

څرنگه چې انســان د موجوديت يو طرز دی، نو له نوره طبيعته څخه را بيليدلای نســــي. دی سر تر پايه د طبيعت يوه برخه ده. انسانان د دې نړۍ له نورو شيانو څخه پرې نه دي. دوی هم په جسمي او هم په روحي لحاظ د طبيعت د حوزې غړي دي. که ســپيان او اســان حيوانان دي چې فاني کيږي، نو انســان هم يو حيوان دی چې فاني کيږي. که ســپيان او اســان بيالوجيکي ميکانيزمونه دي، نو انســان هم هغســې دی. بالعکس که انســان يوازې مادي نه دی، بلکې فکر هم کوي، نو ســپيان او اســان هم يوازې مادي نه دي، بلکې دوی هم خپل روحي خصوصيات لري. که په انسان کې کوم شی ابدي دی، نو په سپيانو او اسانو کې هم دغسې ابدي شـی موجوديت لري. انسـان بيله استثناء څخه په کُلي او بشپړه توگه د نور طبيعت يوه برخه ده.

(سپينوزا) د طبيعت مفهوم ته دوه اړخه ورکول. لومړی (نتورا نتورانس **Natura naturans** پيـدا کوونکی طبيعت) يعنې زيږونکی طبيعت، طبيعت د يوې منبع، د يوه نـامتنـاهي امکـان بشــپړتيا، مافوقيت او نه بيانيدونکي په توگه. دوهم (نتو رانـاتو راتـا **Natura naturata** پيـدا ســوی طبيعـت) يعنې طبيعت د نامتناهي جهانونو، شــيانو او پيښــو په توگه چې هغه ته (کل) ځان ورويشــلی دی او هلته (واحد) جوهر خپلو پټو بالقوه امکاناتو ته تبارز ورکړی دی. (ســپينوزا) د خپلو

ثرګندونو په لړ کې ویلي دي چې «ښښتن» د ټولو شیانو علت دی، خو نه داسې علت چې تر هغه څه چې دی پیدا کوي، د باندې دی، بلکې په هغه څه کې دننه دی. دی داسې علت دی چې د ټولو شیانو په ذات کې دننه دی. د ښښتن ذهن هغه ټوله ذهني ساحه کښیباسي چې په زمان او مکان کې خپره ده او هغه ټوله خپور سوی شعور شاملوي چې نړۍ ته ژوند ورکوي.

دا زموږ خطاء ده چې له ښښتن زموږ د ځان په شان داسې انتظار ولرو چې هغه نو ټوله شیان ویني، زموږ نمانځنې اوري او د یو متعال انسان په توګه اراده او عمل کوي.

*«زه عقیده لرم چې که مثلث د خبرو قدرت درلودی، نو به یې ویلای چې ښښتن په ثرګنده توګه مثلث دی او یوې دایرې به بیا دا ویلای چې ښښتن په ثرګنده توګه ګردی دی او په همدې ډول به هر شي خپل صفات ښښتن ته منسوبولای.»*
*(اخلاقي اصول)*

(سپینوزا) د جبر او اختیار په مسئله کې هم یو ثرګند معقول دریځ نیسي. اختیار یا آزادي په عادي معنی یو پوچ تصور بولي. د نړۍ جریان د طرحه سوي پلان له مخې نه ګنې، بلکې د ټولو شیانو په را پیدا کېدو او له منځه تلو کې د علیت پر مقوله اتکاء کوي. دی وایي حقیقي آزادي نه له ناپوهۍ څخه او نه له ټاکونکو عواملو څخه د استقلال په وسیله لاس ته راځي، بلکې له پوهنې او د دې خبرې له درک څخه لاس ته راځي چې زموږ نه په دې ګټه ده او نه دا امکان لري چې له هغه (کُل) څخه بیل سو چې موږ یې یوه برخه یو.

د هالينډ دغه ماټرياليسټ فيلسوف چې د انساني ژوند حقايق يې ډېر ښه ليدلای سوای، د ټولنې په باب کې يې هم مترقي نظريات څرګند کړي دي. څرنګه چې انســانان ارومرو خپله بقأ او د خپل قدرت او ازادۍ لايتناهي پراختيا لټوي، نو د ټولنې په نسـبت څيړنه هم له دغه ټکي څخه پيل کيږي. اجتماعي ســازمانونه په دې سبب وجود ته راځي چې د بـــشري موجوديت د بشپړتيا لپاره هم هېڅ شی دونه ګټور نه دی، لکه يو انســان چې د بل انسان لپاره دی. يو انسان د بل انسان په نسـبت ښښـتن دی. « د هر هغه ګام په وسـېله زما خپل قدرت زياتيږي چې د هغې همکارۍ لوري ته اخيسـتل کيږي، چې زما قدرت د نورو انسانانو له قدرته سره يو ځای کوي.» (٦)

## ميخائيل لومونوسوف Mikhail Lomonosov ١٧١١- ١٧٥٦ – م

د روسـيې له سترو ساينس پوهانو څخه و چې د ماټرياليستي ليد څرګندونې يې منځ ته راوړې، شـــوروي ليکوال (شـــپيتولين) ليکي: «لومونوســـوف د فلســـفې اســاسـي مسـئلې ته له ماټرياليستي دريځ څخه تقرب کاوه او په دې فکر و چې ټولـه اجســـام او پـديـدې پـه خپـل ماهيت کې مادي دي. ماده له اټومونو څخه جوړه ده چې د هغو لـه ترکيبـه مـاليکولونه (يعنې ذرات) منځ ته راغلي دي چې ټوله «حـــسي شيان» جوړوي. لومونوسوف لومړی سړی و چې له طبيعي علمي لارې څخـه يې د مـادې او حرکـت ابـديت او نه فاني کېده هغه وخت په اثبات ورســـول چې د مـادې او حرکت د تحفظ قانون يې کشــف کړ. دغه قانون يې داسې تدوين کړ: « ټوله شيان په طبيعت کې په داسې ډول واقع دي چې هر څه

کوم شـــي ته ورزياتيږي، هغه په عين حال کې له يو بل شـــي څخه کميږي... د طبيعت دغه قانون تر داسې اندازې کُلي دی چې د حرکت قواعد هم شاملوي.»
(لومونوســـوف) تـاکيـد کـاوه چې ماده او حرکت نه ســره جلا کيږي او ماده د حرکـت پـه يوه دايمي حـالت کې قرار لري. د ميکانيکي ماټرياليزم د نورو ټولو نمـايندگانو په څير، ده حرکت هغه انتقال ته ويل، چې اجســام يې په مکان کې سـرته رسـوي او حرکت يې دوه ډوله ته ويشلی وو: يو خارجي حرکت چې کله يو جسـم د بل جسم په نسبت خپلې وضع ته تغير ورکوي او بل داخلي حرکت چې کله يو مشخص جسم خپلې وضع ته تغير ورکوي.
(لومونوســـوف) عقيده درلوده چې ماده په لايتناهي اندازه خواص لري. د ده له نظريې سره سم نړۍ په دې وسيله د پيژندلو وړ ده چې حـــــــــــسي اورگانونه مستقيماً له شيانو او پديدو سره په ادراکي تماس کې راځي او دغه حـــــــــسي معلومـات بيا تر تيوريکي تفکر تيريږي. ده هم تجربې او هم تيوريکي تفکر ته اهميت ورکاوه او پر دې يې ټينگار کاوه چې حقيقت يوازې په هغه صورت کې پيژندل کيدای ســـي، چې دغه دوه نژدې متقابل ارتباط ولري. (لومونوســـوف) ليکلي دي: «د مشاهداتو له مخې د يوې تيورۍ تثبيت او د مشاهداتو تصحيح د تيورۍ په وسيله د حقيقت د اثبات لپاره بهترينه لاره ده.» (۹)
د (لومونوســـوف) د ماټرياليســـتي ليد يو بل لوی کمال دا و چې د ده فلســـفي قضـاياو تل تر تله د طبيعي علومو له شـهادت او دطبيعت په اختصـاصي ځانگو کې له څيړونو سره نژدې ارتباط درلودئ.

## لامیتري، جولین افري ډو La Mettrie, Julien Offroy de ۱۷۹۰- ۱۷۵۱ م

پـه اتلســمـه پیړۍ کې چې کلـه د فرانســې پر مځکه، په ټولنه کې د بورژوازي انقلاب تاریخي پروسـه روانه وه، نو له دې سره سم یوه سلسله انقلابي افکار مخ پر غوړېدو وو چې ټولو د ماټریالیزم د اســاســاتو په قوت خپله مبارزه وړاندې وهلـه. پـه دې تـاریخي دوران کې یو زیات شــمېر منورین را پیدا ســوه چې د طبیعي او اجتماعي نظریاتو په سـاحه کې یې په نړیواله سـویه د سـترو تحولاتو پیلامه کښېـښــوله. اینگلس په تخیلي او علمي سـوسـیالیزم کې په دې ارتباط لیکي: «هغه سـتر انسانان چې په فرانسه کې یې د خلگو اذهان راتلونکي انقلاب ته چمتو کړه، په خپله دوی ډېر جدي انقلابیان وو. دوی هېڅ ډول مافوق طبیعي قدرت په رسمیت نه پیژندئ. دین، طبیعي علوم، ټولنه، سیاسي مؤسسات او ټوله شــیان د بیخي ازادانه انتقاد په معرض کې پراته وو. هر شــي باید خپل وجود د عقل او استدلال په وړاندې ثابت کړی وای او یا باید له منځه وتلی وای. عقل د ټولو شیانو یوازینی معیار گرځیدلی و.»(۳)

د اتلســمې پیړۍ هغه فرانســوي پوهان او فیلســوفان چې طبیعت او ټولنه یې د ماټریالیسـتي نړۍ لید له دریځه څخه تشـــریح کوله، په شـمېر خورا ډېر دي او زیاته یې په دې رساله کې نسـي ځاییدلای. د هغو ټولو په نماینده گۍ غواړم یو څو تنـه یې دلتـه پـه لنډ توگـه در وپیژنم او د مـاټریالیزم په لار کې مو د هغو له افکارو سره اشنا کړم.

د کرونولوجي په اسـاس لومړنی سـړی چې غواړو په دې سـلسـله کې یې وپیژنو هغه (لامیتري) دی. وایي چې دی یو وخت ناروغه سو او د دې ناروغۍ په حال

کې يې خپل سايکالوجيکي عوارض او حالات تر مطالعې لاندې وه. په دې وخت کې ده د جسمي حالاتو هغه اغيزې مشاهده کولې چې په روحياتي حالاتو کې يې درلودې. له دغې کتنې څخه يې د دې تيورئ الهام واخيستئ چې انسان ته د يو ماشين په سترگه وگوري او فکر د دغه ماشين پيداوار وبولي. په ۱۷۴۸ کال کې يې هغه کتاب خپور سو چې نوم يې داسې و (انسان د ماشين په توگه) دغه اثر ډېر ناوړه انعکاسات را وپارول او دی مجبوره سو (هالنډ) ته وتښتيدي او هلته يې په (لايدن) کې استوگنه غوره کړه.

ده پر مذهب انتقاد کاوه او د روح بقاء يې هم نه منله. (لاميتري) د دوو څلويښت کالو په لنډ عمر کې د فرانسې د ماټرياليستي او ضد مذهبي نهضتونو په تاريخ کې شانداره برخه واخيسته او د مترقي افکارو ذخيره يې ډېره بډايه کړه.

## ديدرو، ديني Diderot, Denis ۱۷۱۳ – ۱۷۸۴ – م

(ديدرو) چې د فرانسې د اتلسمې پيړئ د ماټرياليستي نظرياتو په انکشاف کې يې فعاله برخه درلوده، د منورينو د هغې ډلې مشر و چې (دايرة المعارفيان) نوميدله. دی د هغه دايرة المعارف موسس او مصحح و چې د ساينس، مذهب او فلسفې په ټولو څانگو کې يې د معقوليت د نوې فلسفې له دريځه څخه مضامين خپاره کړه. په علمي ساحه کې يې د ډياليکتيک له ميتوده څخه زيات کار واخيستئ او د ده هغه اثر چې Neveu de Rameav نوميږي، اينگلس د ډيالکټيک د يو شهکار څرگندوی بللی دی.

(ديدرو) نظريه درلوده چې فلسفه بايد پر تجربه بنأ سي. ده ويل چې د تحليل سلسله اټومونو ته رسيږي او له دې اټومونو څخه اورگانيزمونه جوړيږي. حتی په

غیر اورګانیګ شیانو کې هم په بالقوه توګه احساس موجودیت لري. (دیدرو) د اروګانیزمو د انکشـاف په باره کې هم څرګندونې کړی دی او دا یې هم ښـوولې ده چې نباتات او حیوانات د خپل ژوند له شـرایطو سـره ارتباط لري. ده نړۍ یو واحد باله چې خپل توازن د پیښو د دایمي تغیر په سلسله جاري ساتي.

## هلوسیوس کلو دادا ریان Hevlvetius claud Adrien ۱۷۱۵ -۱۷۷۱ م

د فرانسـې د اتلسمې پیړۍ له ډېرو مهمو ماټریالیستانو او منورینو څخه بلل سوی دی. دی د مذهب سره زیات مخالف و او د (دائرة المعارفیانو) د منورینو په ډله کې یې عضـویت درلودئ. د ټولنې په باب کې یې ډېر داسـې نظریات وړاندې کړي دي چې ماټریالیسـتي اسـاسات لري. په هغه اثر کې چې د De L’espit په نامه یې لیکلی دی، داسـې استدلال کوي چې انسانان په اصلي ماهیت کې سره مسـاوي دي. خو وروسـته د تعلیم او شـرایطو په سـبب یو د بل سـره توپیر پیدا کوي. د انسـان اساسي محرکت ځان خوښونه (حب الذات) بولي. (هلوسیوس) عقیده درلوده چې د یوه او ټولو منافع باید سـره توحید سـي. ده احسـاس د ټولو بشري استعدادونو اساس ګاڼه.

د عدالت او حق په باره کې یې نظریه دا وه چې دا شـــیان مطلق نه دي، بلکې د ځـانګړو کلتورونو لـه دودنو ســـره فرق کوي. ده عقیده درلوده چې نړۍ مادي، نامحدوده او د دایمي حرکت په حالت کې ده.

## هولباخ، پال هینري Holbach, Paul Heni ۱۷۲۳- ۱۷۸۹ – م

دی پخپل هغه اثر کې چې ( Systeme de la Nature د طبیعت نظام) نومیږي د ماتریالیزم له ایډیالوجی څخه دفاع کوي. (هولباخ) چې ډېر پیاوړی ماتریالیست دی، روح له مادې څخه مستقل نه گڼي. د شعور یې داسې تعریف کړی دی چې په مغز کې د ذراتو هغه شان یو ښورښ دی چې د تخمیر له عملیې سره شباهت لري. ده لیکلي دي چې مذهب څوک د روحانیونو تر حاکمیت لاندې راولي. روحانیونو د دې لپاره چې خلک تر خپل کنترول لاندې وساتي، خورا ډېرې غیر واقعي مفکورې یې له ځانه څخه جوړې کړې دي.

(هولباخ) په خپل تاریخي اثر کې لیکلي «که موږ طبیعت د داسې مړو موادو یوه مجموعه گڼلای، چې هغه له هر راز خواصو څخه فارغه او مطلق انفعالي حالت لري، نو په داسې صورت کې به البته موږ مجبوره وای چې د طبیعت تر ساحې دباندې داسې عامل ولټوو چې هغه د طبیعت د حرکات سبب کیږي. خو که کله له طبیعت څخه زموږ مطلب هغه وي لکه څنگه چې عملاً موجودیت لري- یعنې د یو کُل په توگه دی چې په هغه کې بیلابیل اجزاء خواص لري او د دغو بیلابیلو خواصو سره سم عمل کوي، یو پر بل باندې په دایمي توگه د عمل او عکس العمل سلسله جاري ساتي، وزن لري، یوه مشترکه مرکز ته د جاذبې په وسیله کشیږي او نور بیا د محیط خواته فرار کوي، یو د بل سره هم جذبوي او هم دفع کوي، سره یو کیږي او سره بیلیږي او تل تر تله تصادم سره کوي او سره یو ځای کیږي او په دې ترتیب ټوله هغه شیان چې موږ

يې ګورو د ترکيب او تحليل له لارې يې منځ ته راوړي، نو بيا هېڅ شی موږ دې ته نه واداره کوي چې مافوق طبيعي قواوو ته د دې تشـــريح لپاره مراجعه وکړو چې زموږ تر نظر لاندې شيان او پديدې په څه ډول را پيدا کيږي. (۴)

(هولبـاخ) وايي: «څرنګه چې انســان له مادې څخه جوړ دی او د مادې په باره کې د افکارو خاوند دی او د تفکر استعداد لري، نو ماده تفکر کولای سي يا د دغه خاص د تحول استعداد لري چې موږ يې تفکر بولو.» (۴)

د (هولباخ) په عقيده هېڅ شی په طبيعت کې تصادفي نه دي، ټوله شيان د دقيقو قوانينو په اساس منځ ته راځي او دغه قوانين هغه حتمي رابطه ده چې د علت او معلول ترمنځ وجود لري. (هولبـاخ) وايي: «که له ما څخه څوک پوښــتنه وکړي چې ماده له کومه راغله، زما جواب به دا وي چې هغه د تل لپاره موجوده وه. که څوک ووايي چې حرکـت يې لـه کومه کړ، زما جواب دا دی چې حرکت يې په خټه کې اخښلی دی او د هغې د موجوديت حتمي نتيجه ده.» (۱۰)

**نتيجه**

د مـاټريـاليزم هغـه انکشـــافـات چې د مځکې پر مخ پـه بيلابيلو هيوادو کې د اوولسمې او اتلسمې پيړۍ په زمانو کې سرته ورسيده، د انسان او جهان په ارتباط يې خورا ډېر حقايق روښانه کړه او بشـــر ته يې دا قدرت ور په برخه کړ چې هم طبيعت او هم ټولنه تر پخوا ښـه وپيژني او د ټولنيزو اړتياوو سـره سـم د تاريخي تکامل په لار کې لازم انقلابونه بري ته ورسوي.

په فرانسـه کې د اتلسمې پيړۍ ماټرياليزم د هغو شديدو سياسي او ايډيالوجيکي مبارزاتو په دوران کې انکشاف  وکړ چې بورژوا طبقې د ټولنې د تکامل تاريخي

رسالت د فیوډالیزم په مقابل کې سرته رساوه. فرانسوي ماټریالیستانو د فیوډالي ارتجاع، مذهب او ایډیالیزم خورا کلک او نه پخلاکیدونکي مخالفان وو. دوی د زړې فیوډالي ټولنې پر ځای غوښتل چې د طبیعي عقل په اساس جوړه سوې ابدي ټولنه، چې هغه په خپل تاریخي ماهیت کې بورژوازي ټولنه وه، منځ ته راولي.

د فلسفې په تاریخي انکشاف کې د فرانسوي ماټریالیستانو غټه مرسته د طبیعت په باره کې د دوی فلسفي سیستم و چې هغه یې د مادې او حرکت د توحید پر اصل باندې رابنا کړی و.

(هولباخ) لیکي چې: «نړی، دغه د ټولو موجودو شیانو یو خورا غټ ترکیب موږ ته هر چیرې یوازې ماده او حرکت راښکاره کوي.» د فرانسوي ماټریالیستانو له نظره هر هغه شی چې د انسان پر حسي غړو باندې اثر اچوي، هغه ماده بلل کیږي او حرکت د مادې خپل ذاتي شی دی چې په خپله له مادې څخه منشاء اخلي او په بل چا اړه نلري. د مادې حرکت د طبیعي قوانینو سره سم سرته رسیږي چې دا قوانین نه انسان پای ته رسولای سي او نه تحول ورکولای سي. دغه قوانین فرانسوي ماټریالیستانو په میتافیزیکي توګه ساده او بې تغیره غوندې درک کړي وو.

فرانسوي ماټریالیستانو د پوهنې تیوري هم جګې سطحې ته ورسوله. دوی د انسان په ذهن کې د عیني شیانو او پدیدو انعکاس پوهنه بلله. د دوی له نظریې سره سم شیان د انسان په حسي غړو اغیزه اچوي، احساس تولیدوي او له هغه څخه پوهنه منځ ته راځي.

فرانسـوي ماټریالیسـتانو همدرانګه د نړۍ د خلقت، د روح د بقا او داسـې نورو شیانو په باره کې د کلیسا پر مذهبي احکامو حملې کولې. دوی مذهب د خلګو د معنوي اسارت یوه اله بلله او هغه ته یې د استبداد او جهالت د سنګر په سترګه کتله. دوی ویل چې مذهب د خلګو له ناپوهۍ او د طبیعت له قواوو څخه د ډار په سـلسله منځ ته راغلی دی. تعلیم او ساینس ته دوی د داسې وسیلې په سترګه کتل چې دغه ډار له منځه وړلای سي. (۵)

د اوولسـمې او اتلسـمې پیړۍ ماټریالیزم هر ځای ته خپور سـو، خلک یې تنویر کړه او د خرافاتو په مقابل کې یې ټولنه راویښــه کړه، د علومو د ودې لپاره یې د ازادۍ زمینـه برابره کړه. د نړۍ د مـادي موجودیـت مفکوره یې عـامـه کړه او د ټولنې د انکشـاف په برخه کې یې د بورژوازي فارماسـیون د جوړیدو رسـالت سرته ورساوه.

دغه ماټریالیزم له ټولو هغو ښګینو سره چې د بشـــر د مادي او معنوي تکامل په ساحه کې درلوده، یو زیات شمېر نیمګړتیاوې هم پکې وې چې د نور انکشاف لپاره یې د ضرورت سلسله ناتمامه پاته سوه.

د دغو نیمګړتیـاو لـه جملې څخـه مارکس او اینګلس درې عمده محدودیتونه ښــوولي دي. یو دا چې دغه ماټریالیزم (میکانیکي خصــلت) درلودئ، ځکه د طبیعت کیمیاوي عضـوي او نورې پروسې یې ټوله یوازې د میکانیکي قوانینو په سلسله تشـــریح کولې او انسان یې حتی د ماشین سره یو شی ګاڼه. دوهم د هغه (میتـافزیکي خصــلـت) و چې پـه طبیعـت کې یې د تکامل او یو د بله د پیوند انکشــافات نه لیدله. دریم د هغه (ایډیالیســتي خصــلـت) و چې د ټولنیز ژوند پـدیـدې یې پـه ایـډیالیســتي ډول څېړلې، ځکه دغو ماټریالیســتانو د ټولنې د

انکشـــاف مادي عوامل نه لیدله او تاریخ ته یې د نظریاتو او افکارو د تدریجي تحقق په سترگه کتله.

**مـیکـانیکي محـدودیـت:** اینگلس لیکي: «د تېرې پیړۍ مـاتریـالیزم زیـاتره میکـانیکي و، ځکـه پـه هغـه زمانه کې ټوله طبیعي علوم یوازې میکانیکي وه او رښتیا هم یوازې د کلکو ځمکني او اسماني اجسامو میکانیکي علوم وه. لنډه دا چې د جـاذبې میکـانیک د بشـــپړتیا یوې ټاکلي درجې ته رســیدلی و. کیمیا لا صرف د وړوکتوب په حالت کې وه.... بیالوجي هم د زانگو په کالو کې پرته وه. نبـاتي او حیواني اورگـانیزمونـه تش تر کچه ازموینو لاندې راغلي وه او په نتیجه کې نو یوازې د میکانیکي عواملو له مخې تشـــــریح کیدله. د اتلســمې پیړۍ د ماتریالیستانو په نظر کې انسان هغه راز یو ماشین و لکه حیوان چې د (دیکارت) پـه نظر کې و. د میکـانیـک یوازیني معیـارونه د طبیعت د کیمیاوي او عضـــوي پروسو په مورد کې په کار اچول کېده او رښتیا هم د میکانیک قوانین په همدغو پروســو کې جاري دي، خو صــرف دونه خبره ده چې دوی د نورو عالي قوانینو په نســبت فرعي حیثیت لري- نو له دې څخه د فرانســې د کلاســیک ماتریالیزم هغـه لومړی خـاص محـدودیت منځ ته راغلی چې په دغه زمانه کې چاره هم نه ځني کیدله.» (۱۱)

**میتـافزیکي محـدودیـت:** « د دې مـاتریـالیزم دوهم خاص محدودیت په دې ټکي کې و چې د نړۍ درک یې بیله دریدو څخه تر تاریخي انکشــاف لاندې دی. دغســې یو نظر د طبیعي پوهنې د هغـه وخـت لـه ســطحې ســره او لـه میتافیزیکي، یعنې د فلسـفي تفکر د ضد ډیالیکټیکي له طریقې سره چې هغه له پوهنې ســره تړلي وه، مطابقت درلودئ، دا خبره معلومه وه چې طبیعت په ابدي

حرکت کې دی. خو د هغې زمانې له افکارو سره سم دغه حرکت  همدارنگه په ابـدي توگه په یوه دایره کې گڼل کیدئ او نو ځکه په یوه محل کې باقي پاتیدئ او په خپل تکرار کې یې یو شــانته نتایج منځ ته راوړله. له دغه راز نظره څخه په هغه وخت کې چاره نه وه. د (کانت) د شمـــسي نظام د پیدایښت تیوري تازه را وړاندې سوې وه او صرف د یو عجیب شي په سترگه ورته کتل کیدله. د مځکې یعنې جیـالوجي د انکشــاف تاریخ لاتراوســه بیخي نامعلوم و او دا نظریه چې اوســني ژونـد طبیعي موجودات له ســاده څخه مرکب ته د انکشــاف د اوږده تسلسل په نتیجه کې منځ ته راغلي دي، هغه زمانه په عملي توگه هیڅ کله مطرح کیدلای نســوای نو ځکه د طبیعت په باره کې له غیر تاریخي نظریې څخه چاره نه وه.» (۱۱)

د میتـافزیکي روش د را پیـدا کېـدو تـاریخي موجبـه چې اینگلس د تخیلي او علمي سـوسـیالیزم په اثر کې په تفصیل پر ږغیدلی دی او ډېر غني مطالب لري، لـه لږ تصـــرفـه ســـره د لنـډیز رانقل کیده یې دلته لازم بولم. ځکه دغه تاریخي نیمگړتیـا چې د پخواني ماټریالیزم په ټولو مکتبو کې موجوده وه، هغه لویه خلا وه چې ماټریالیزم یې د ایډیالیزم ســره په مبارزه کې له ماتي ســره مخامخ کاوه، اینگلس لیکي: «کله چې د طبیعت لویې ورشو یا د بشـر تاریخ او یا خپلو ذهني فعـالیتو تـه پـه غور وگورو او چرت پکې ووهو، نو وار د واره د یو نـاپـایـه گډوډ ترکیـب یو تصـــویر وینو چې هغه له پیوندونو، عکس العملونو – بدلونونو او یو ځای کیدنو څخه جوړ سوی دی او په دې ترکیب کې هېڅ شی نه پر خپل حال نـه پر خپـل ځای قرار ثابت پاتیږي، بلکې هر شـــی له ځایه ښـــور خوري، تغیر کوي، وجود تـه راځي او لـه منځـه وځي، د دې تصـــویر پـه پس منظر کې یوه

ســلســله بيلابيل اجزا هم مخ ته راځي. چې موږ د هغو د ليدلو پر ځای د دوی حرکـات، انتقـالات او ارتبـاطات مشــاهده کوو. دغه منظره د لومړي پلا لپاره د يونان په لرغوني فلسـفه کې (هيراکليت) داسې تصوير کړه: (هر شی هم موجود دی، هم نه دی موجود، ځکه هر شی بهاند دی، تل ترتله تغير خوري او هر کله وجود ته راځي او له منځه ځي).

دغـه منظره د کُـل پـه توګـه د نړۍ د عمومي تصــوير ماهيت په صــحيح توګه انعکاسوي، خو هغه اجزا چې دغه تصوير ورڅخه جوړيږي، موږ ته يې نســـي راښــوولای. د ټوله تصــوير په باب د روښــاني مفکورې لپاره په کار ده چې پر دغو اجزاؤ هم علم راســـي. د دې اجزاؤ پـه باب د پوهنې لپاره لازمه ده چې هر يو يې لـه خپلو طبيعي او تـاريخي روابطو څخـه را تجريـد کړو، هر يو جلا وازمويو، ماهيت وګورو، مخصوص علتونه معلولونه او نور اړخونو يې وپلټو.

طبيعـت د خپلو بيلابيلو اجزاؤ تـه تحليلول او بيلابيـل طبيعي جريانات او شــيان ټاکلو اقسـامو ته سـره جلا کول او د اناټومي له پلوه د مختلف الشـکله عضـوي اجسامو داخلي جوړښتونه مطالعه کول، داسې ټوله کارونه د ساينس د هغو لويو او سـترو برياليتوبونو اسـاسـي شـاهکارونه و چې د پنځلسـمې پيړۍ له دوهمې نيمايي راهيسـې د طبيعت مربوط زموږ د پوهنې په برخه کې سرته رسيدلي دي، خو د مطـالعې دغـه تجريدي (ميتافزيکي) طريقې نو موږ ته دا عادت په ميراث را پرې ايښـي چې طبيعي شـيان او جريانات (پروسـې) په مجرده توګه يو له بله ګوښــي مطـالعـه کړو او لـه هغو ارتباطو څخه يې راوباســو چې ټوله يې په يوه وسـيعه سـاحه کې سـره تړلي دي. په همدې ډول دوی د (سکون) په حالت کې مطـالعـه کوو، نـه د (حرکـت) په حالت کې. دوی ثابت او ابدي غوندې مطالعه

کوو، نه داسې چې اساساً بې ثباته دي او د تغیر قابلیت لري. دوی د مرگ په حالت کې مطالعه کوو، نه د ژوند په حالت کې. کله چې د مطالعې همدغه طریقه د (بیکن) او (لاک) په وسیله له طبیعي علومو څخه فلسفې ته را انتقال سوه، نو د تفکر یو محدود او میتافزیکي طرز یې منځ ته راوستئ چې د تیرې پیړۍ له مشخصاتو څخه گڼل کیږي.

د میتافزیک د پالونکو په نظر کې شیان او د شیانو ذهني انعکاسات یعنې افکار یو له بله څخه منفرد، ثابت، جامد او د تل لپاره پر یوه قرار دي چې یو پلا یو او بیا تر هغه وروسته بل پلا په جلا جلا توگه باید تر مطالعې لاندې راسي. میتافزیک والا موضوعات داسې گڼي چې یو دبل په نسبت نه رغیدونکی تضاد او کلک تقابل لري چې هیڅ (وسط) نه قبلوي. د ده په نظر کې یو شی یا موجود او یا معدوم دی. داسې نسي کیدای چې یو شی دې په یوه گړۍ کې هم په خپله دغه شی وي او هم یو بل شی وي. مثبت او منفي په مطلق ډول یو او بل نه سره کښیباسي او علت و معلول یو د بله کلک تقابل لري.

د تفکر دغه طرز په لومړی کتنه کې موږ ته خورا ډېر ځلاند ښکاري، ځکه دا هغه طرز دی چې په اصطلاح د انسان سلیم عقل ته منسوب دی. همدا د انسان سلیم عقل چې د خپل کور د څلورو دیوالو په ساحه کې د احترام وړ انډیوال دی، خو کله چې د څیړنې او پلټنې پراخې نړۍ ته راکښیوزي، نو له خورا عجیبو ماجراگانو سره مخامخ کیږي. د تفکر دغه میتافزیکي طرز په یو شمېر مواردو کې چې د هغو ساحه تر پلټنې لاندې شیانو د ماهیت سره سم فرق کوي، خورا معقول او ضروري معلومیږي، خو څه ژر یا وروسته داسې حد ته رسیږي، چې تر هغه په هاخوا نو په یو اړخیزه محدود او مجرد طرز اوړي چې په لاینحله

تضــادونو کې لاره ورکوي. ځکـه کله چې د مفردو شــيانو په باب کې چورت وهي، نو د شـــيانو تر منځ متقـابـل ارتبـاط يې هيرېږي او کلـه چې د شـــيانو د موجوديت په باب کې چورت وهي د هغو پيدايښـت او له منځه تله يې هيرېږي او کلـه چې يې د ســکون پـه بـاب کې چورت وهي، نو د دوی حرکـت يې هيرېږي.» (۳)

**ايډياليســتي محدوديت:** ميکانيکي او ميتافزيکي ماټرياليزم د ټولنې د پديدې په برخه کې پرته له ايډياليسـتي افکارو څخه نور څه نسـوای ويلای. هغه څوک چې به طبيعت کې ماټرياليسـت و، په ټولنه کې به ايډياليست ځني جوړيدئ. د ټولنې تحولات، تغيرات او انکشــافـات د افکارو او نظرياتو په انکشـــافاتو کې لټول کيده او ټولې اصــلاحي او انقلابي نقشــې د مجرد عقل په رڼا کې تدوين کيدلې. دا هغه تاريخي محدوديت و، چې ماټرياليزم يې احاطه کړی و، تر دې وخته دا پوښـتنه نه وه حل سـوې چې په خپل ځان کې مادي عوامل او عناصـر لري او د هغو د حرکت په سلسله ټولنيز انکشافات منځ ته راځي. د ټولنې تکامل هم دغـه مـاټرياليزم ته يوه ډېره بيگانه موضـــوع وه، ځکه تراوســـه يې لا دغه د تکامل پديده په طبيعت کې هم نه وه درک کړې. لنډه دا چې ماټرياليزم له خپل ټوله راډيکاليزمه سـره د ټولنې په سـاحه کې مطلق ايډياليسـت و او په دې برخه کې يې د تاريخي بې سوادۍ ټاپه پر تندي لگيدلې وه.

## ډیالیکټیکي ماټریالیزم

### د ماټریالیزم د ډیالیکتیکي تکامل مقدماتي شرایط

د اتلســمې پیړۍ مـاټریالیســتانو چې د خپل دکتورین نیمګړتیاوې نه لیدلې، نو ټینګـه عقیـده یې درلودلـه چې پر ایډیالیزم یې ســخت واری کړی دی او د ابد لپاره یې د هغه په مقابل کې د خپل بري حسـاب تصـفیه کړی دی. خو څرنګه چې د دوی تر میکانیکي شعور د باندې د ټولنې او طبیعت د تکامل په باب کې عیني تاریخي پروسې روانې وې، نو له داسې مسایلو سره انسانان مخامخ کیده چې میکـانیکي مـاټریـالیزم یې ځواب نســوای ویلی، نو لازمـه وه چې د هغـه محـدود میکانیزم ور مات کړي او ایډیالیزم ته رجوع وکړي. (پلخانوف) لیکي: د مـاټریـالیزم پـه مقابل کې عکس العمل وختي لا د اتلســمې پیړۍ په اخر کې شــروع شــو او د نولســمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې ماټریالیزم په خپله د یوه داسـې سـیسـتم حالت ته ورسـیده چې متروک او د تل لپاره له منځه وتلی ګڼل کیده» (۱۲)

د پخواني مـاټریالیزم لویه کمزوري دا وه چې د طبیعت او تاریخ په برخه کې په تکامل نه پوهیده. خو د دې لپاره چې نړۍ او د هغې تکامل او همدارنګه بشـري انکشاف او د انسانانو په ذهن کې د دې تکامل او انکشاف انعکاس په واقعي او حقیقي توګه تمثیل او تصویر شي، دا یې ایجابوله چې ډیالیکټیک نظري اصول

منځ ته راشي، څو د طبيعت واقعي ډياليکتيک د هغه په وسيله تشـــريح شي، د طبيعت پيژندنې په کار کې (کانت) شـمســـــي نظام تحليل کړ او دا يې وښووله چې دا ټوله بيروبار د يوه تاريخي انکشـاف په نتيجه کې منځ ته راغلی دی او د لمر او نورو سـياراتو تشـکيل د گرځنده دوړو له طبقاتو څخه را پيدا سـوی دی.
له دې تحليله څخه يې په عين زمان کې دا نتيجه هم را وايســته چې څرنگه چې د شمـــسي نظام مبدأ دغه ډول ده، نو په آينده کې خرابي او ويراني هم ارومرو ورته گوري. (ډاروين) دا اثبات ته ورسوله چې ټوله عضوي موجودات، نباتات، حيوانات او په خپله انسان د تکامل د يو جريان پيداوار گڼل کيږي.
دغه راز تکاملي او ډياليکتيکي حقايق چې په ټولنه کې د صـــنايعو او پوهنې له انکشـاف سره را څرگنديده، هغې ميتافزيکي طريقې ته يې سـخته ضربه ورکړه چې شـــيـان يې مطلق مجرد او لـه تکـاملـه څخـه گوښــه تحليلولـه. ميکانيکي مـاټريـاليزم چې ډېر کلـک ســوی ؤ، دا ظرفيـت يې نه درلودئ چې خپل ثابت ميکـانيزم د متحرک ډيـاليکتيک لپاره عيار کړي. د تاريخي جبر حکم و چې د ډيـاليکتيک نظرياتو آيډياليزم ته پناه يوورړه او د (هيگل) د فلســـفې په اړخ کې يې خپل تاريخي انکشافات شروع کړ.
(هيگل) الماني فيلسـوف و چې په ورين تندي يې د ډياليکتيک اصول استقبال کړل او د خپل سـيستم په ټاټوبي کې يې ځای ورکړ. اينگلس د هيگل د فلسفې پـه باب وايي: «د دې ســيســـتم لوی کمال دا و چې د لومړي پلا لپاره يې ټوله طبيعي، تـاريخي او ذهني نړۍ د يو جريـان په شـــان يعنې د يوه دايمي حرکت، تحول او انکشـاف په ډول وښـووله. په دې سـيسـتم کې کوښښ وسو چې ټوله

هغـه يو پـه بـل کې داخلي روابط او پيونـدونـه وپلټي چې د دې ټوله حرکت او انکشاف دوامداره مجموعه څني جوړه سوي ده.» (۳)

د (هيګل) سيستم پر نورو خبرو سربيره د بشـري تاريخ د تکامل موضوع مطرح کړه، خو د هغو قوانينو ځرک پکې نـه ليدل کيده، چې دغه تکامل اداره کوي. د اينګلس په قول که څه هم هيګل د خپل وخت يو جامع العلومات فيلسـوف و خو سره له دې يې هم د خپلو معلوماتو ساحه محدوده وه او بل د ده په عصـــر کې د پوهنې ســاحـه هم محـدوده وه چې ډېر ژرتوب يې نـه درلودئ. پر دې محدوديتونو باندې يو دريم لوی محدوديت هم ورزيات ســوی او هغه دا چې (هيګل) يو ايډياليست و.

د (هيګل په سـيسـتم کې دننه يو داسـې تضـاد موجود و چې چاره يې نسـوای کيدای. له يوې خوا د دې سيستم اساسي قضيه دې نظريې تشکيلوله چې بشري تاريخ د تکامل يو جريان دی او د خپل ذاتي ماهيت له مخې نسـي کيدای چې د کوم تش په نامه مطلق حقيقت د کشـفيدو په سـلسـله په فکر کې خپل نهايي حـد پيـدا کړي. لـه بلې خوا يې ځـان د همـدغـه مطلق حقيقـت جوهر ګـاڼه. د طبيعي او تاريخي پوهنې داسـې يو سـيستم چې هر څه په ځان کې راکښيباسي او د ټولو زمانو لپاره نهايي سيستم وي، د ډياليکتيکي تفکر له اساسي قانونه سره تضاد لري. د دې قانون حکم دا دی چې د نړۍ په باب کې اصولي پوهنه له يوه عصره تر بله ډېر غټ ګامونه اخيستلای سي.» (۳)

په الماني ايډياليزم کې د اساسي تضاد درک بيرته ارومرو فلسفي تاريخي جريان د ماټرياليزم پر لاره اچاوه، خو د غور خبره دا ده چې دا پلا نو ماټرياليزم صــرف د پخوا غونـدې ميکـانيکي او ميتـافزيکي خصـلـت نـه درلودئ، بلکې د نورو

پدیدو په شــان یې د تاریخي تکامل په ســلســله له ډیالیکتیک ســره اورگانیک پیوند پیدا کړی و.

## لوډویگ فیورباخ Ludwig Feuerbach ۱۸۱۴ – ۱۸۷۲ م

هغه وخت چې د هیگل د ایډیالیستي سیستم په تضادونو کې ځوانو مفکرینو لارې ورکولې او د المان پر مځکه یوه فلســفي انارشــي روانه وه، په ۱۸۴۱ کال کې د ماټریالیســت (لوډویگ فیورباخ) هغه تاریخي کتاب خپور ســو چې (د مســیحیت ماهیت) نومیدئ. د دې اثر د خپرېدو لـه برکتـه ځوان منورین د ایډیالیســتي تضــادونو د جنجالو له گردلې څخه د ماټریالیزم روڼا ته راووتل. له دغې زمانې څخه نو د (هیگل) ایډیالیزم سخته ماته وخوړه او د (فیورباخ) مبارز ماټریالیزم غټ برى وگاټه.

(فیورباخ) وویل: طبیعت له هر ډول فلســفې پرته وجود لري. دا هغه اســاس دی چې موږ بشــري موجودات چې په خپله د طبیعت پیداوار یو، د همدې اساس پر بنـاء باندې منځ ته راغلي یو. هېڅ شــی تر طبیعت او انســان د باندې وجود نلري او عـالي موجودات چې زموږ د مـذهبي تخیلاتو پیداوار دي، یوازې زموږ د خپل ماهیت تصوري انعکاسات دي.

د (فیورباخ) په یوه لیکنه کې د فلسفې اساسي مسئله د ده د ماټریالیستي نظر په اسـاس داسـې تدوین سوې ده: «د تفکر او هستۍ ترمنځ واقعي رابطه داسې ده: هسـتي مبتدأ او تفکر یې خبر دی. تفکر له هستۍ څخه را پیدا کیږي او هسـتي له تفکره څخه منځ ته نه راځي.» (۱۳)

فیورباخ مذهبي او عقیدوي هویتونه ټوله د انسان خپل پیداوار بلل. د (فیورباخ) ماټریالیزم د (انتروپولوجیکي) ماټریالیزم په نامه بلل سوی دی، ځکه ده غوښتل چې د فلسفې د اساسي مسئلې د حل لپاره یوازې طبیعي مجرد انسان ونیسي. د همدغې څېړنې په سلسله یې د انسان اجتماعي خصلت له نظره ولویدئ او دغه نیمګړتیا یې په وروسته کې (مارکس) ور پوره کړه.

د فیورباخ ماټریالیزم د میکانیک او میتافیزیک له ساحې څخه راووتئ، خو د ډیالیکټیک تر ساحې پورې ونه رسیدئ. د طبیعت په باره کې یې ډېر مادي حقایق روښانه کړه، لیکن د ټولنې په تشریح کې یې ایډیالیستي خصائل له لاسه ورنکړه.

### د ډیالیکټیکي ماټریالیزم ظهور

- د مځکې پر مخ د ټولنیزو انکشافاتو او انقلاباتو پروسې دې حد ته تکامل راکړی و چې د ټولنې په جوړښت کې د خواریکښې طبقې خپل مستقل سیاسي- اجتماعي نهضتونه منځ ته راغلي وو او پرله پسې یې وده کوله. په دې ترتیب نو سرمایه داري تضادونو انکشاف کړی و او د پرولتاریا طبقې تاریخي مبارزې پیل سوي وې.
- د طبیعي علومو او فنونو د غښتلي رشد په سلسله په ټولو څانګو کې د تکامل ښکاره پدیدې د پوهانو تر پلټنې لاندې اثبات ته رسیدلې وې او ورځ په ورځ یې نور مظاهر هم منځ ته راتله. په دې سلسله کې د ډیالیکټیکي ارتباطاتو او تکامل پروسه ډېره روښانه کیدله. د نورو علمي پرمختګونو په جمله کې اینګلس د دغه وخت درې ستر کشفیات د یوې

علمي زمينې د برابريدو په توګه ذکر کړي دي. يو دا کشف چې د (سلول) له واحده څخه د تکثير او تغير په سلسله نباتي او حيواني اورګانيزمونه را پيدا سوي دي او بل دا کشف چې د انرژۍ د تحفظ او تبديل د قانون په نامه يادېږي او دريم د (ډاروين) هغه کشف چې ټوله انواع د انسان په شمول د تکامل په سلسله منځ ته راغلي دي.

- د د تکامل په ساحه کې د ماټرياليزم او ډياليکټيک اصولو، قوانينو او فلسفې مقولو هم ډېر لوړ مدارج طی کړي وو او نور يې هم لا مخ په وړاندې حرکت کاوه.

هغه متحرکو مادي تاريخي عواملو چې د ټولنې په وجود کې يې غښتلي تکاملي حرکت ته نور هم رشد ورکاوه، دا ايجابوله چې د دغو اجتماعي، علمي او فلسفي دريو زمينو په غيږ کې د ټولنې طبيعي علومو او فلسفې درې عناصر، د اورګانيک تکاملي ترکيب په هويت کې د يوه نړۍ ليد او تاريخي-علمي فلسفي سيسټم په بڼه منځ ته راسي.

دغه ستر تاريخي رسالت د مارکس او اينګلس د ګډو سياسي تحقيقاتي او تيوريکي کوښښونو او مبارزاتو په وسيله څه د پاسه د پنځوسو کلونو په دوران کې سرته ورسيدئ او د ډياليکټيکي ماټرياليزم ډېره ژوندۍ، غښتلي، انقلابي او د عمل علمي فلسفه يې منځ ته راوړه.

**کارل مارکس Karl Marx ۱۸۱۸ -۱۸۸۳ - م**

**فریدریک اینګلس Frederick Engels ۱۸۲۰ -۱۸۹۵ – م**

هغه وخت چې دوی ځوانان وو او د هیګل په فلسفه کې د ښي او کيڼ اړخ جریانونه په المان کې روان وو، نو دوی د خپل انقلابي خصلتونو له مخې د کيڼو هیګلیانو سره تعلقات درلوده. دوی د هیګل د فلسفې په پالنه کې د هغه له ډیالیکټیک سره ډېره اشنایي پیدا کړې وه، خو کله چې د هیګل تر ایډیالیستي سیستم وروسته د هغه پر ضد د فیورباخ ماټریالیزم منځ ته راغی، نو څرنګه چې دوی له وختي څخه لا دې ته چمتو سوي وو، چې ماټریالیستي نظریاتو ته انکشاف ورکړي، هغه یې په ډېره خوښۍ استقبال کړ. د (فیورباخ) هغه اثر چې (د مسیحیت ماهیت) نومیدئ، ډېره پراخه اغیزه وښیندله. اینګلس پنځه څلویښت کاله وروسته د دغه وخت خاطرې ته اشاره کوي او داسې لیکي: «دا چې دغه کتاب څونه آزادي بخښونکی تاثیر درلودئ، یوازې هغه څوک یې فکر کولای سي چې دغه پیښه یې باید لیدلي وای. ښور او زوږ هر چیرې خپور و. موږ ټوله یو دم (فیورباخیان) سوو. د ټولو انتقادي ملحوظاتو سره (مارکس) په ډېره علاقه او شوق دغه نوې نظریه استقبال کړه او د هغې تر ډېر تاثیر لاندې راغی.» (۱۱)

دا د هغه جریان تاریخي مبداء ده، چې ډیالیکټیکي ماټریالیزم د مارکس- اینګلس په لاس باندې را شروع کیږي. دلته خبره دونه ساده نه ده چې د هیګل (ډیالیکټیک) او د فیورباخ (ماټریالیزم) دوی راکاپي کړ او دواړه یې د کتاب په شان په یوه جلد کې واچول او د ډیالیکټیکي ماټریالیزم نوم یې پر کښیښووئ.

داســـې هم نـه ده چې مـارکس- اینګلس د ډیـالیکټیـک او مـاټریـالیزم لـه ټولو پخوانیو انکشـافاتو څخه ځان را پرې کړ او مطلقه نوې فلسفه یې د ډیالیکټیکي ماټریالیزم په نامه منځ ته راوړه، بلکې دا د ټوله بشـــــر د کُلي تاریخي ادامې د انکشـاف نتیجه ده چې د دغو نوابغو په وسـیله یې د ټاکلو شرایطو په ساحه کې په همدغه متکامل شکل د بشپړ علمي نړۍ لید په توګه تبارز وکړ. د دغه مطلب په باره کې **لنین** ډېر ښـه وایي چې: «**مارکسـیزم د نړۍ د تمدن له لویې لارې څخه لیرې او ګوښـه منځ ته نه دی راغلی. مارکسیزم د نوي نړیوال نظام د نوي تمدن سـتر تیوریکي بیان دی او د ټولو هغو علمي ارزښـتونو قانوني وارث دی، چې د بشـــري دماغ په وسیله را پیدا سوي دي. دې مسلک د علمي تفکر د هغو واقعي بریالیتوبونو په مرســـته چې تر مارکس دمخه لاس ته راوړل سوي وو، د ټولنې په ساینس کې خپل ستر انقلاب سرته ورساوه.**»
(۱۴)

مارکس- اینګلس له ماټریالیزم سره ډیالیکټیک پیوند کړ او په دې وسېله یې د طبیعـت پـه بـاره کې میکـانیکي او میتـافزیکي روشـــونـه لـه منځـه یووړه. د ډیـالیکټیکي ماټریالیزم د تدابیرو په مرســـته یې د ټولنې د پدیدې او انکشـــاف تاریخي مادي هویتونه کشـف کړل او په دې ډول یې تر ډیالیکټیکي ماټریالیزم لاندې هغه ستره انقلابي څانګه منځ ته راوړه چې (تاریخي ماټریالیزم) نومیږي.

**مارکس او اینگلس د ډیالیکټیک په باره کې:**

(اینگلس) د ډیالیکټیک د تعریف په برخه کې څو ځایه داسې ویلي دي چې: «**ډیالیکټیک د طبیعت، بشري ټولنې او تفکر د حرکت او انکشاف د عمومي قوانینو ساینس دی.**» (۱-۱۵)

دی وایي: مارکس هغه یوازینی سړی و او دی چې ویې کړای سول، د دې کار تر عهدې ووزي چې د هیگل له منطق څخه زونډی راوباسي چې په دې ساحه کې یې د هیگل واقعي کشفیات تشکیوله او له هغه څخه له نوي سره ډیالیکټیکي میتود چې په خپل ایډیالیستي پسول باندې نه وي پوښلی، په داسې ساده بڼه جوړ کړی چې په دې وسیله نو د فکر د انکشاف د یوازیني رښتیوني شکل په توگه ځان وښیي.»[1]

مارکس په خپله وایي: «زما ډیالیکټیکي میتود نه یوازې دا چې د هیگل له هغې څخه توپیر لري، بلکې سم سیده د هغه سره ضد دی. د هیگل په نظر کې د بشري مغز د ژوند پروسه یعنې د تفکر پروسه چې دی یې د (ایډیا) په نامه بولي او حتی یوه مستقله هستي ځني جوړوي، د واقعي نړۍ پیداکوونکی (Demiurgos) ده او واقعي نړۍ یوازې د (ایډیا) خارجي پدیده یي شکل دی. خو زما په نظر کې بیا بالعکس (ایډیا) پرته له دې چې په بشري مغز کې د مادي نړۍ انعکاس او د تفکر په شکل اوښتی دی، بل شی نه بلل کیږي.»[2]

---

[1] (پر سیاسي اقتصاد انتقادي لیکنه باندې، د اینگلس مقدمه)

[2] (د کاپیټال د لومړي جلد د الماني نسخې دوهم چاپ ضمیمه)

همـداســـې پـه هغـه لیـک کې چې د ۱۸٦۸ کال د مارچ پر (٦) نېټه يې له لندن څخـه (کوګلمـان) تـه ليکي، داســـې وايي: «زه يو ماټرياليســـټ يم او هيګل يو ايډياليسټ دی. د هيګل ډياليکټيک د ټولو ډياليکټيکونو بنيادي شکل دی خو صـرف تر هغه وروسـته چې د خپل روحاني شکل له پوښه څخه وايستل سي او دا هغه اصلي ټکی دی چې زما ميتود ته د ده له هغه څخه فرق ورکوي.»

په (تخيلي او علمي سـوسـياليزم) کې اينګلس د ډياليکټيک منبع داسـې څېړي: «طبيعت د ډياليکټيک ثبوت دی. د اوسني ساينس په باره کې بايد دا وويل سي چې د دغه ثبوت لپاره يې خورا ډېر مواد برابر کړي دي چې ورځ په ورځ مخ پر زياتيدو دي او په نتيجه کې يې نو دا خبره روښانه کړې ده چې په نهايي حد کې طبيعـت پـه خپلـه پـه ډيـاليکټيکي توګه کار کوي، نه په ميتافيزيکي توګه. يعنې طبيعـت پـه دايمي تکراري دايره کې چې د ابـد لپاره پر يوه قرار وي، حرکت نه کوي، بلکې د يوه واقعي تاريخي تکامل په لار کې روان دی.»

(اينګلس) چې يو ډېر عالي انسان دی او زياتره د تاريخي واقعاتو په بيانولو کې پراخ نظر لري او د هيچا پر ارزښـتونوو باندې سـترګې نه پټوي نو د ماټرياليستي ډيـاليکټيک د را پيدا کېدو په باب کې يو ځای داســـې ليکي: «دا خبره د توجه وړ ده چې د ماټرياليسـتي ډياليکټيک طريقه چې د ډېرو کلونو راهيسې زموږ د کار بهترينه اله او ډېره تيزه وســـيله ده، يوازې موږ نه ده کشــف کړې، بلکې يوه المـاني کارګر چې (جوزيف ديګن) نوميږي له موږ او حتی له هيګل څخه جلا په خپله همدارنګه کشف کړې وه.» (۱۱)

## مارکس او اینګلس د ماټریالیزم په باره کې

مارکس او اینګلس چې د نبوغ او استعداد له مخې تر بل هر چا دې ته ډېر اماده وو، چې د ماټریالیزم د تکامل او ترویج تاریخي رسالت پر غاړه واخلي، نو لکه څنګه چې ښائیده د قربانیو په ورکولو سره یې دا رسالت د اوږدو مبارزو په دوران کې سترو بریالیتوبونو ته ورساوه. مارکس وایي: «د فلسفي خېړونو لپاره یو جسور او آزاد فکر په کار دی.» حقیقت دا دی چې دوی د دغې کارنامې لپاره پر انقلابي جسارت او فکري حریت سربیره، لازم کفایت او بشپړ لیاقت هم درلودی.

دوی د فیورباخ ماټریالیستي نظریات نه یوازې واخیستل، بلکې په هغه لومړۍ وهله کې یې دې ته شروع وکړه چې په خلاق ډول یې بشپړ او نیمګړتیاوې هم ور پوره کړي. د هغو لنډو یادانښتونو له مخې چې ثابته ده (د فیورباخ په باره کې تیزسونه) نومیږي، په ۱۸۴۵ م کال کې مارکس داسې لیکلي دي:

# کارل مارکس
# (د فیورباخ په باره کې تیزسونه)

۱- تر دا اوســه پورې چې د مـاټریـالیزم ډولونـه راغلي دي، د فیورباخ د ماټریالیزم په شـمول، اسـاسـي نیمګړتیا یې دا ده چې په هغو کې (شــی)، (واقعیت)، (احساس) صرف د (عینیت) یا (تصور) په شکل درک سوی دی، نه د (بشــري حســـي فعالیت) یعنې (پراتیک) په توګه، چې په ذهني ډول سـرته رسیږي. په همدې سبب نو دا خبره پیښه ده چې د (ماټریالیزم) سره د فرق په مقایســه (فعال) جهت د (ایډیالیزم) له خوا تکامل کړی دی- خو البته په مجرد ډول ځکه څرګنده خبره ده چې ایډیالیزم واقعي حـــــسي فعالیت هغه راز نه پیژني، لکه څنګه چې دی. فیورباخ داســې حســــــي عینیتونه غواړي چې واقعاً له فکري عینیتونو سره توپیر ولري، خو په خپله بشــري فعالیت ته د یوه عیني فعالیت په توګه نه ګوري. له دې جهته نو د (مسیحیت ماهیت) په اثر کې تیوریکي تلقي یوازې خالصه بشــري تلقي ګڼي، په داســې حال کې چې (پراتیک) یوازې په خیرن (یهودي) مظهر کې درک او تثبیـت کیږي. ځکـه نو د (انقلابي) او (پراتیکي- انتقـادي) فعالیت په اهمیت نه پوهیږي.

۲- دا پوښتنه چې آیا بشــري تفکر عیني حقیقت بلل کیدای سي یا نه، په هیڅ صورت د تیوري پوښتنه نه ده، بلکې پراتیکي پوښتنه ده. انسان باید د خپل تفکر حقیقت یا واقعیت او قدرت یې یعنې د تفکر د دغه اړخ موندل په پراتیک کې اثبات ته ورسوي. له پراتیک څخه جلا د تفکر د واقعیت یا نه واقعیت په باره کې مباحثه، صرف یوه (سکولاستیکي) مسئله ده.

۳- دا ماټریالیستي دکتورین؛ چې انسانان د شرایطو او روزنې محصول دي او نو ځکه په همدې اساس کوم انسانان چې تحول یې کړی وي، هغه بیا د نورو شرایطو او بلې روزنې محصول دي، دا خبره هیروي چې دا په خپله انسانان دي چې شرایطو ته تغیر ورکوي، نو لازمه ده چې روزنکي په خپله وروزل سي. په دې ډول نو دغه دکتورین اورمرو دې ټکي ته رسیږي چې ټولنه پر دوو برخو وویشي چې یوه برخه یې تر ټولنې لوړ مقام ولري( مثلا لکه د رابرت اووین چې په نظر کې وه)
د شرایطو د تغیر او د بشـــــري فعالیت یو ځایي انطباق یوازې د انقلابي پراټیک په توګه درک او په معقول صورت پیژندل کیدای سي.

۴- فیورباخ لـه هغې مذهبي (خودبیګانګی) او دوه ګوني نړۍ څخه خبره را پیـل کوي چې یوې خواتـه یوه مـذهبي تخیلي نړۍ ده او بـل پلو تـه واقعي نړۍ موجودیت لري. د ده کار له دې څخه عبارت دی چې مذهبي نړۍ د دنیوي اساس له مخې وښیي. خو تر دې ټکي یې پام اړوي چې د دې کار تر بشـپړیدو وروسـته بیا هم خورا مهم کار پاته او سـر ته نه دی رسـیدلی. ځکه دا خبره چې دغه دنیوي اســاس خپل ځان له ځانه څخه بیلوي او د یوه مستقل قلمرو په توګه په اوریځو کې ځانته ځای نیســـي، یوازې په دغه دنیوي اساس کې دننه د ذاتي تضاد له مخې تشریح کیدای سي. له دې جهته نو دغه دنیوي اساس په خپله لومړۍ باید په خپل تضاد کې درک ســي او بیا نو د تضـاد د ایســته کیدو په وسـیله په پراټیک کې انقلابي وګرځي. په دې ډول نو مثلاً تر هغه وروسته چې دا کشف سوه چې پر مځکنۍ کورنۍ کې د مقدســې کورنۍ رمز پـټ دی، نو بـاید مځکنۍ کورنۍ په تیوري کې تر انتقاد او په پراټیک کې تر انقلاب لاندې راسي.

**۵- فیورباخ په مجرد تفکر قانع نه دی او حـــسي تصور ته هڅه کوي. خو احساس د یوه پراتیکي او بشري- حسي فعالیت په توګه نه درک کوي.**

**٦- فیورباخ مذهبي ماهیت د بشـــري ماهیت په توګه ښیي. خو بشـــري ماهیت یو مجرد ذاتي شـــی نه دی چې د هر ځانګړي فرد په خټه کې اخښلی دی. په واقعیت کې بشـــري ماهیت د اجتماعي روابطو مجموعه ده. فیورباخ چې د دغه واقعي ماهیت پر انتقاد باندې نه راځي، نو په نتیجه کې مجبوره کیږي چې:**

**الف- ځان له تاریخي پروســې څخه تجرید کړي او مذهبي احســاس د داسې شي په توګه تثبیت کړي چې ځان ته موجودیت لري او انسان د یو مجرد- منفرد- بشري فرد په توګه په نظر کې ونیسي.**

**ب- نو ځکه بشــري ماهیت د ده په نظر کې یوازې د یوه (جنس) په توګه پیژندل کیدای سي چې د یوې داخلي ګونګې رابطې په وسېله زیات افراد یوازې په طبیعي توګه سره یو ځای کوي.**

**۷- په دې سبب نو فیورباخ دا نه ویني چې (مذهبي احساس) په خپله یو (اجتماعي محصــول) دی او هغه مجرد فرد چې دی یې تحلیلوي، په واقعیت کې د ټولنې په یو خاص شکل پورې اړه لري.**

**۸- اجتماعي ژوند په اســاس کې (پراتیکي) دی. ټوله رموزات چې تیوري پر غلطه لار اچوي او تصوف ته یې رسوي، خپل معقول حل په پراتیک او د دغه پراتیک په پوهنه کې مومي.**

**۹- ډېره لوړه نقطه چې تصوري ماټريالیزم یعنې هغه ماټريالیزم ور رسیدلی دی چې احساس د پراټیکي فعالیت په توگه نه درک کوي، هغه په (مدني ټولنه) کې د ځانگړو افرادو تصور دی.**

**۱۰- د پخواني ماټريالیزم د لید دریځ «مدني» ټولنه ده، خو د نوي ماټريالیزم د لید دریځ «بشري» ټولنه ده، یا خو ټولنیز انسانیت دی.**


**۱۱- فیلسوفانو نړۍ یوازې په بیلابیلو ډولونو تشریح کړې ده، خو د مطلب ټکی دا دی چې دې ته تغیر ورکول سي.**

اینگلس د دغو تیزسونو په باره کې وایي: «دغه اثر هغه لومړی سند دی چې د نوي نړۍ لید ځلانده زونۍ پکې ساتل سوي دي» (۱۱)

مارکس- اینگلس چې د ماټريالیزم په ساحه کې د بشري ټولنې د تاریخ مقوله هم راکښیایسته، نو د فلسفې هغه تاریخي رسالت یې چې باید نړۍ ته تغیر ورکړي، په عملي توگه د مځکې پر مخ اثبات ته ورساوه. اینگلس لیکي: «پخواني ماټريالیزم ټوله تیر تاریخ ته د نامعقولیت او تشدد د بې ډوله مجموعې په سترگه کتله او اوسنی ماټريالیزم په پخواني تاریخ کې د بشري تکامل جریان ویني او هدف یې دا دی چې د همدې تکامل مربوط قوانین کشف کړي... اوسنی ماټريالیزم د طبیعي علومو ډېر تازه اکتشافات په ځان کې راکښیباسي چې د هغو سره سم طبیعت همدارنگه د زمان په ساحه کې خپل تاریخ لري او سماوي اجرام لکه په دوی کې میشته عضوي انواع تر مساعدو شرایطو لاندې

رازيږي او بيا له منځه ځي.... اوســـنی ماټریالیزم په هر لحاظ د ماهیت له مخې ډیالیکتیکي دی.» (۳)

**د «ډيـاليکټيـک مـاټريـاليزم» تـدوين چې د مـارکس- اينگلس په علمي او فلســفي ابتکار منځ ته راغی، په خپل کُليت کې يې يو شـــمېر ســـاحې را کښـايسـتلې چې شـوروي فيلسوف (خارين) په يوه منظمه نقشه کې داسې تصوير کړی دی:**


ډیالکټیکي ماټریالیزم
تاریخي ماټریالیزم
هغه قوانین چې د ټولنې د مادي ژوند انکشاف اداره کوي
ماده او د هغې د موجودیت شکلونه
هغه قوانین چې اجتماعي او سیاسي انکشاف اداره کوي.
د ډیالیکټیک اصول، قوانین او مقولې
هغه قوانین چې د ټولنې معنوي انکشاف اداره کوي.
د شعور د ثانوي ماهیت دکتورین
د طبیعت، ټولنې او تفکر په باره کې د پوهنې تیوري (اپیستمولوجي)

## ډیالیکټیکي مرحلې ته د ماټریالیزم تاریخي انکشاف

ماټریالیزم او د هغه انکشاف داسې فردي پدیده نه ده، چې یوه پلا په هند کې بیا په چین کې، بله پلا په یونان او روم کې بیا په انګلستان او فرانسه کې او بالاخره په المان کې د ځانګړو فیلسوفانو د ذکاوت او درایت د درجې سره سم منځ ته راغلی وي، بلکې دا د ټوله بشـــر د مجموعي انکشاف په مداومه تانسته کې د اجتماعي شعور هغه انکشاف دی، چې د ټولنې د تاریخي انکشاف سره په اورګانیک ارتباط کې یې یو ځای د ټولنیزو غوښتنو پر بنأ د خپل تکامل مراحل وهلي دي.

دغه تکامل او انکشاف د هغو متضادو پدیدو په ټکر کې خپل جریان جاري ساتلی دی چې تل تر تله د ټولنې په منځ کې د دننه روابطو او د ټولنې او طبیعت په د باندې روابطو کې را پیدا سوی دی.

دمخه موږ وویل چې فلسفه د سیسټم په توګه هغه وخت منځ راغله چې په ټولنه کې د لاسي او دماغي کار ترمنځ وېش را پیدا سو. له همدغه وېش څخه را په هیسته چې د عملي کار او تفکر مقولې سره بېلې سوې، نو د اجتماعي شعور په ساحه کې د متضادو فکري سیسټمونو مباحثې، مجادلې او مبارزې را شروع سوې دي چې د ټولنې د غوښتنو مطابق یو د بل سره د ټکرونو او نفي په سلسله انکشافات منځ ته راتله او فلسفي دکتورینونه یې تکامل ته رسوله.

په دې جریان کې ماټریالیزم هم د بریاوو او هم د ماتو په سلسه، کله د خرافاتو کله د ایډیالیزم، کله د مذهب او کله د سیاست له جریانو سره ټکرونه کول چې له دې مبارزو څخه کله غالب او کله مغلوب راوتئ. د ماټریالیزم هغه انکشاف

چې د نفي په سلسله يې په تاريخ کې ادامه موندلې ده، اينګلس داسې پکې ږغيدلی دی: «د لرغوني زماني فلسفه ابتدايي او پر طبيعي ماټرياليزم را بنا وه. دغه سبب و چې د روح او مادې ترمنځ رابطه يې نسواى روښانه کولاى، خو د دغسې مسئلې د روښانه کيدو ضرورت دې دکتورين ته لارښوونه وکړه چې روح له بدنه څخه د جلا کيدو قابل دی او پر دې مفکوره نو بيا دا نتيجه بنا سوه چې دغه روح نه فاني کيږي او بلاخره خبره دې ځاى ته ورسيده چې يوازې روح موجوديت لري او پرته له دې څخه بل شی اصالت نلري. پخوانی ماټرياليزم نو په ايډياليزم نفي سو. خو د فلسفې د نور انکشاف په دوران کې ايډياليزم هم دې ځاى ته ورسيدئ، چې نور نو دفاع نسواى ځنې کيداى او نو ځکه په اوسني ماټرياليزم نفي سو. دغه اوسنی ماټرياليزم چې د نفي نفي په سلسله منځ ته راغلی دی، صرف د زاړه ماټرياليزم دوباره استقرار نه بلل کيږي، بلکې د دغه زاړه ماټرياليزم پخو اساساتو ته يې د فلسفې او طبيعي ساينس د دوو زرو کالو د انکشاف او همدرانګه د دې دوو زرو کالو د تاريخ فکري محتويات ور زيات کړل.»(١۵)

د مرئيتوب په فرماسيون کې د بادارانو مترقي قشر چې تحولات يې غوښتل، د ماټرياليزم نماينده ګي کوله. په فيوډالي فرماسيون کې په سکولاستيک شکل د روحانيونو منور او يا (ملحد) قشر دغه وظيفه اجراء کوله. د بورژوازي فرماسيون په راوستلو کې د بورژوا طبقې نماينده ګانو د ماټرياليزم بيرغ په لاس کې اخيستی وو. د کمونيستي فرماسيون د تيورۍ د ظهور په مقدمه کې د ماټرياليزم رسالت پرولتاري طبقې ته را انتقال سو.

که ماټریالیزم د بشـــــر له عملي فعالیت څخه یوه را زیږیدلي شـعوري پروسـه وبولو، نو د ماټریالیزم د رســالت تاریخي انتقال خواریکښــې طبقې ته بیخي یو طبیعي او منطقي انتقال معلومیږي.
ماټریالیزم د خواریکښ انسـان لپاره داسې طبیعي فلسفه ده، لکه ایډیالیزم چې د استثمارګر لپاره ده. خو یو زیارکښ که د ناپوهۍ له مخې ایډیالیست کیږي، نو دا خبره دونـه غیر طبیعي ده، لکـه اســتثمـارګر چې د پوهنې لـه مخې څخـه مـاټریـالیســت کیږي. د دې خبرو دلیـل روښــانه دی. ځکه چې خواریکښ د مځکې پر مخ ډوډۍ پـه زیـار او زحمـت پیـدا کوي او پـه دې تر هر چـا ښــه پوهیږي چې یوازې د مادي زیار او کار له لارې د طبیعت له لاسه ډوډۍ راوزي او د همـدغـه زیـار او کـار پـه مبارزه کې عملاً دا زده کوي چې د ژوند پروســه مادي ده. خو اســتثمارګر چې د بل د لاس حاصـل خوري او د بل چا د زحمت حاصـلات تروښـوي، نو هغه هر وخت د ژوند پروسه ایډیاليویني او په دې ژر نه شي پوهیدای چې طبیعت ماټریالیست دی.[٣]
دغه تاریخي قانونمندي وه، چې ډیالیکټیکي ماټریالیزم په خواریکښه طبقه کې خپل نماینده ګان وټاکله. ماټریالیزم چې اصـلاً د خواریکښـو فلسـفه وه، پخوا د تـاریخي او طبقاتي شـــرایطو د نه انکشـــاف له مخې نورو طبقاتو پالله او دا یې اصـــلي نقیصـــه هم وه. خو د مارکس او اینګلس له را پیدا کېدو سـره دغه نوی تـاریخي جریـان هم په اصـــلي مجراء کې ولویدئ. ماټریالیزم نو له دنګو ماڼیو څخـه راووتئ او د پرولتـاریـانو په جونګړه کې یې واړول. مارکس حق درلودئ

[٣](د دغه پاراګراف الهام مې د محترم هاتف له خبرو څخه لس کاله پخوا اخیستی دی)

چې د تـاریخ دغـه انقلابي واقعیـت پـه دې حکیمـانـه الفـاظو کې څرګند کړي:
«فقط لکـه فلســفـه چې خپلـه مـادي وســېله په پرولتاریا کې مومي، دغه رنګه پرولتاریا خپله معنوي وسېله په فلسفه کې مومي.» (١٦)

اوس د ټولنې په هغه نوي فرماسـیون کې چې پرولتاریا یې د سـوسـیالیزم په نامه اسـاس ایښی دی، ډیالیکټیکي ماټریالیزم په علمي او اجتماعي تجربو سره ورځ په ورځ غني کیږي، ځکه هلته داسې ټولنیز روابط نسته چې د فلسفي حقایقو د انکشــاف او تکامل مخه راوګرځوي او داســې خنډونه نســته چې د طبیعت د اسـرارو پیژندنه د کومې طبقې منافع په خطر کې واچوي. هلته که څوک اسـمان ته خیژي او که څوک د مځکې تل ته ننوزي، داسـې طبقه نسـته چې له دې راز آزادنه حرکاتو ســره یې د ټولنیزو اســتثماري روابطو شــبکه څیري ســي او په ایډیالوجیکي چور و پور او ســیاســي فشــارو ســره د طبیعت او ټولنې د ســمې پیژندنې په لار کې خنډونه واچوي.

ډیالیکټیکي ماټریالیزم چې له هر راز فرقوي او ایډیالیستي تمایلاتو څخه فارغه دی، د بشـري ټولنې د داسې مترقي روابطو نړۍ لید دی چې په هغه کې فکر دا قدرت پیدا کوي چې د بشــپړې آزادۍ په ســاحه کې طبیعت وپیژني او بیګانه شــیان ورســره ګډ نه کړي. کله چې فکر دې درجې ته ورســیږي، چې واقعیت تمثیل کړي نو انسـان ډېر غښـتلی کیږي او پر ځان او جهان باندې یې د ژوند په ګټه تسلط زیاتیږي.

**د ډیالیکټیکي ماټریالیزم له سـترو ښیګنو څخه یوه دا ده چې خپل حریف ایزمونه او دکتورین په وچ او میکانیکي انکار نه ردوي، بلکې د هغو تاریخي او اجتماعي ماهیت او ضرورت لټوي او د راپیدا کېدو تاریخي ریښې یې**

**د ټولنې پـه روابطو کې پلټي او هم يې د ختميـدو او نفي اســـاســـي او ډيـاليکټيکي لارې ښــيي. پـه دې صــورت کې نو د خرافاتي اوهامو او د ايډياليزم د ټولو ځانګو په باب هم ماټرياليستي پوهنه منځ ته راوړي.**

بايد وويل سـي چې په نړۍ کې د بشـــــري ټولنې تکاملي پروسـه دې ځای ته رسـيدلې ده چې د هغې نوي انقلابي ضــرورتونه پرته له ډياليکټيکي ماټرياليزم څخه، بل نړۍ ليد نســـــي پوره کولای. دا د زمان ضرورت دی او د تاريخ دغې قانونمندۍ منځ ته راوړی دی. مارکس ليکي:

«فيلسوفان د پوڅيکو په شان له مځکې څخه نه راغورځي. دوی د خپل زمان او د خپل ملت مولود دی. چې ډېره دقيقه، باارزښــته او نامريي شــيره (عصــاره) د فلسفې افکارو ته ورتويوي. هغه روحيه چې د اوسپنې لارې د کارګرانو په لاسو جوړوي، د فيلسوفانو په دماغو کې فلسفي سيستمونه تياروي.» (۱۷)

ښـايي دا پوښتنه چاته پاته وي چې ډياليکټيکي ماټرياليزم طبقاتي نړۍ ليد دی، نو د عيني واقعيـت پـه تمثيل کې ښــايي هغه طبقاتي نيمګړتياوې ولري. په دې مورد کې بـايد ووايو چې د خواريکښـــې او اســتثمارګرې طبقې ترمنځ طبقاتي خصـلتونه فرق لري. خواريکښـه پرولتاريا طبقه په خپل طبقاتي موقف کې هيڅ راز ګټـه او منفعت نلري، نو ځکه نه غواړي چې ځان په دغه طبقاتي حالت کې وساتي. بلکې غواړي چې ټوله بشـر بې طبقې ژوند ته ورسيږي. دغه راز موقف چې يو څوک هڅه کوي ځان او جهان له طبقاتي حالته وباسي، په دې کې هيڅ علاقه نسـي اخيستلای چې له عيني واقعيت ليرې عقايد او افکار د يو سيستم په توګه پر ځان او جهان تحميل کړي. **لنين** په خپله هغه ليکنه کې چې د (بريالي انقلاب) تر عنوان لاندې يې کښـلې ده، يو ځای داسې وايي: «**موږ بايد د خپلو**

**ځانو لپاره اوهام او اساطير جوړ نکړو. داسې کار کوړتې د تاريخ د ماټرياليستي نظر له طبقاتي دريځه سره مطابقت نسي کولای.»**

نن ورځ د علمي او اجتماعي پرمختگ له سرعته سره دا امکان بيخي پای ته رسيدلای دی، چې غير واقعي نړی ليد په اجتماعي مبارزو کې ځان ژوندی وساتلای سي. دغه خبره د هغو فلسفي جرياناتو د سرنوشت له مخې پوره ثابته ده، چې د ډياليکتيکي ماټرياليزم سره په مبارزه کې منځ ته راغلي دي. څه دپاسه د يوې پيړۍ په دوران کې چې ډياليکتيکي ماټرياليزم په جهان کې خپور سوی دی، نو (د مقدسې اتحاديې) له خوا د هغه سره په مقابله کې په سلهاوو (ايزمونه) د مبارزې ډگر ته راغلي دي او اوس هم لا راځي او تر څو چې کمونيستي فرماسيون بشپړيږي، دغه عوارض به جريان لري، خو د نتيجې په لحاظ دا څرگنده ده چې هيڅ (ايزم) په هيڅ محاذ کې ډياليکتيکي ماټرياليزم ته ټينگ سوی نه دی او څه ژر يا وروسته له سختې ماتي سره له منځه وتلی دی. د دې خبرې څرگند دليل دا دی چې ډياليکتيکي ماټرياليزم له يوې خوا واقعيت تمثيلوي، له بلې خوا د ساينس او تکنالوجۍ پر انکشافاتو اتکاء کوي او له بلې خوا د پرولتاريا د انقلابي قدرت په پله کې ولاړ دی. **لنين** وايي: «مارکسيستي دکتورين د مطلق قدرت خاوند دی، ځکه چې حقيقت لري.»

دا به تر وخت دمخه خبره وي، چې څوک په اوس وخت کې د ډياليکتيکي ماټرياليزم پر راتلونکو انکشافاتو باندې په تفصيل رڼا واچولای شي. خو د هغه د ځينو خصوصياتو له مخې دا په جرئت ويل کيدای سي چې د کمونيستي فرماسيون په ساحه کې به نور هم غني سي. ځکه دا نړی ليد له هغسې دوگماتيکو نظري احکامو څخه نه دی جوړ سوی، لکه نور فلسفي نظامونه چې

د تاریخي شـرایطو په تغیر کې خپل تیوریکي اهمیت له لاسـه ورکړي، بلکې د ده میتودونه او روشـونه په خپله له واقعیت څخه استنباط سوي دي. تر څو چې جهـان ډیـالیکتیکي او مادي وي، نو تر هغه به ډیالیکتیکي ماتریالیزم باقي وي. (مارکس) د نظري روشونو د انتقادولو په ترڅ کې داسې وایي:

«موږ نړۍ د یوه نوي پرنسیپ سره په نظري طریقه داسې نه مخامخ کوو چې: دا حقیقت دی د هغه په وړاندې سـجده وکړئ. موږ د نړۍ لپاره نوي پرنسـیپونه په خپله د نړۍ له پرنسیپونو څخه راباسو.» (١٦)

د هغو حدسیاتو په څنګ کې چې د کمونیستي فرماسیون د لیرې راتلونکي په بـاب څرګند سـوي دي، دا ویلای سـو چې ډیالیکتیکي ماتریالیزم به هم هغه وخت چې طبقاتي او سـیاسـي مبارزې پای ته ورسـیږي، خپل علمي رشـد له تاریخي پرمختګه سره یو ځای جاري وساتي.

**نړۍ ته کتنه ( د ډیالیکتیکي ماتریالیزم په هنداره کې):**

د تیرو څلور نیمو زرو کلونو په دوران کې چې د ماتریالیزم نړۍ لید تر شـا پرې ایښـي دي، بشـــــر ته یې هر وخت د نړۍ شـیان او جریانات یو ډول بل ډول برېښـولي دي. کله یې نړۍ ورته اوبه ښکاره کوله او کله یې بیا دا (اوبه) په (اور) ورته اړولي او بل وخت یې بیا (خاوره) او (هوا) هم پر اضافه کوله.

بلـه زمـانـه بیـا نړۍ لـه کوچنیو ذراتو څخـه جوړه وه، چې د ترکیب او تحلیل په جریان کې یې د نړۍ شیان او جریانات منځ ته راوستله. په همدې قیاس د هرې زمانې ماتریالیزم انسانانو ته دا مادي نړۍ په یوه او یا بل قسم تصویروله.

لـه دې سـره نو اوس دا پوښـتنـه منځ تـه راځي چې دا سـلسـلـه نو بالاخره د ډياليکټيکي ماټرياليزم له خوا په څه شکل تصويريږي او په موږ باندې د نړۍ د شيانو او جرياناتو پر له پيچلي متحرکه شبکه څه ډول ليدلای سي.

د دې پوښتنې د ځواب لپاره البته داسې پراخه مطالعه په کار ده چې په هغه کې هم د ډياليکټيک او هم د ماټرياليزم پر پراخو خصوصياتو باندې علم راوستل شي او د هغه په رڼا کې نړۍ په خپل ټول کميت او کيفيت کې وليدل سي، خو په دې سبب چې بيا هم يو اجمالي نظر ولرو، ښه دا دی، د اينګلس هغه بيان ته مراجعه وکړو چې په دې باره کې يې غني مطالب څرګند کړي دي، دی د ډياليکټيک د بيا را ژوندي کيدو په يوه بيان کې د نړۍ منظره داسې تصويروي: «هغه ستر بنيادي فکر چې نړۍ د تيارو جوړو سوو شيانو يو ترکيب ونه بلل سي، بلکې د هغو (پروسو) يوه مجموعه وګڼل سي چې په دې مجموعه کې شيان، هغه راز لکه زموږ په مغزو کې چې د دوی ذهني تصاوير يعنې مفاهيم دي، ظاهراً ثابت غوندې ايسي، خو دوی بې له وقفې څخه تر تغير لاندې دي، وجود ته راځي او له منځه ځي او په دې لړ کې له ټولو هغو خبرو سره چې ظاهراً تصادف معلوميږي او يا په موقتي ډول تر شاتګ ښکاري خو په آخر کې د يو پرمخ تلونکي انکشاف په توګه څرګندوي. دغه بنيادي فکر په تيره بيا د هيګل له زمانې راهيسې په عامه شعور کې داسې کامل نفوذ کړی دی چې په دې تعميم کې اوس په ندرت سره اختلاف را پيدا کيږي. خو په خبرو کې د دې بنيادي فکر منه او په واقعي صورت د پلټنې په هره ساحه کې د هغه دقيق تطبيق دوه بيلابيل کارونه دي. خو که پلټنه هر وخت د دغه ليد له دريځ څخه شروع

سي، نو د نهايي حل او ابدي حقيقت غوښتنه د تل لپاره پای ته رسيږي. له بلې خوا هېڅوک دې ته اجازه نه ورکوي، چې د حقيقت او خطا، د ښه او بد، د عين او غير د ضرورت او تصادف په منځ کې هغه تضادونه يې تېر باسي چې د زاړه ميتافيزيک لپاره چې تراوسه لا هم خپور دی له مغلوبيدو وتلی دی. سړی پوهيږي، چې دغه تضادونه يوازې نسبتي اهميت لري. هغه څه چې اوس حقيقت بلل کيږي. همدرانگه په ځان کې دننه پټ د خطا اړخ لري چې وروسته به ځان ښکاره کړي، دا کټ مټ داسې دی لکه هغه څه چې اوس خطا گڼل کيږي، همدارنگه دا حقيقت خپل اړخ لري، چې د هغه موجب پخوا د حقيقت په سترگه ورته کتل کيدله. سړی پوهيږي هغه څه چې ضرورت بلل کيږي، له خالصو تصادفاتو څخه جوړيږي او هغه څه چې په اصطلاح تصادفي گڼل کيږي، داسې شکل دی چې تر شا يې ضرورت ځان پټوي- او همداسې نور. (۱۱)

يو شمېر هغه تعميمات چې له ډياليکتيکي ماټرياليزم څخه استنباط کيدای سي او د نړۍ د تصوير په ليدلو کې مرسته کولای سي، په لاندې ډول ښوول کيدای سي:

**۱- نړۍ په خپل ټول موجوديت کې مادي ده.**

**۲- نړۍ په خپل کُليت کې ابدي او ازلي ده چې نه ابتداء لري او نه انتهاء.**

**۳- نړۍ په خپل ټول موجوديت کې نه يوازې دا چې حرکت کوي، بلکې تکامل هم کوي.**

**۴- نړۍ پيژندل کيدای سي.**

٥- هر شـــی او هر پـدیـده په نړۍ کې د راپيدا کېدو، انکشـــاف او زوال تر مرحلو تيريږي.

٦- د نړۍ طبيعي پروسه، د ټولنې اجتماعي پروسه او د تفکر ذهني پروسه درې سره د تکاملي پرمختګ په لاره کې حرکت کوي.

٧- ټوله پديدې مادي علتونه لري او پلټل کيدای سي.

٨- ماده سـاکنه او ولاړه هستي نه ده، چې يو بيگانه عامل يې په حرکت راولي، بلکې حرکـت يې پـه ځـان کې اخښـــلی دی، يعنې ماده بې له حرکته او حرکت بې له مادې څخه موجوديت نه لري.

٩- د مادې حرکت قانونمندي لري.

او داسې نور...

## د ډیالیکټیکي ماټریالیزم ساینس

لکـه پـه نـامه کې چې یې ښــکاره ده، ډیالیکټیکي ماټریالیزم دوې مقولې لري، چې یو (ډیـالیکټیـک) او بل (ماټریالیزم) دی. د دواړو په باره کې د نړۍ پوهان هر چیرې په زیاته بیا په سـوسـیالیستي هیوادونو کې ډېر شانداره آثار خپروي او هم ډېرې ژورې څېړنې او عمیقې پلټنې پرې رواني دي. دغـه مـاټریـالیزم اوس تش نظري فلسفي شکل نلري، بلکې ساینســــي نړۍ لید دی چې د نړۍ د تشې تشریح پر ځای د هغې د تغیر هدق تعقیبوي.

د دې لپاره چې لږ او ډېر د هغو علمي مباحثو نومونه زموږ تر نظره تېر سي، چې دغه دوې مقولې یې شـاملوي، نو د ځینو پوهانو د آثارو په مرســته په لنډه توګه دغه موضوع دلته تر څېړنې لاندې راولو.

### د ډیالیکټیک مباحث:

ډیـالیکټیـک د یوه علمي میتود پـه توګـه دا مفهوم لري چې هر څـه د خپلو حرکاتو، تغیراتو او یو د بل سـره د پیوند او ارتباطاتو په سـاحه کې وپلټل سي. د دې میتود اساسي او میتودیک اصول، قوانین او مقولې داسې ټاکل سوي دي.

| | |
|---|---|
| د ډيالکټيک اساسي اصول: | ۱- د تکامل اصل<br>۲- د کُلي پيوند اصل |
| د ډياليکټيک ميتوديک اصول: | ۱- د عيني شيانو او پديدو د پلټنې اصل<br>۲- د مشخص او تاريخي تحليل اصل |
| د ډياليکټيک قوانين | ۱- د اضدادو د يووالي او مبارزې قانون<br>۲- کيفي تحول ته د کمي تحول<br>د اوښتنې قانون<br>۳- د نفي نفي قانون |
| د ډياليکټيک مقولې: | ۱- د فرد او کُل مقولې<br>۲- د محتوا او شکل مقولې<br>۳- د ماهيت او پديدې مقولې<br>۴- د علت او معلول مقولې<br>۵- د ضرورت او تصادف مقولې<br>٦- د امکان او واقعيت مقولې |

## د ماټرياليزم مباحث

د دې لپاره چې د ډياليکټيک اصول، قوانين او مقولې مو تر ذهن د باندې د عينيت په نړۍ کې تر تطبيق لاندې نيولي وي، هر څه مو په مادي نړۍ کې دننه تشريح کړي وي او له مادي نړۍ څخه مو بللي وي، نو دغه کار ايجابوي چې دغه لاندې مفاهيم راته څرګند وي:

**۱- ماده**

**۲- حرکت**

**۳- زمان**

**۴- مکان**

**۵- شعور**

باید وویل سـي چې د ډیالیکټیکي ماټریالیزم عمومي فلسفي ذهنیت او نړۍ لید کولای سـي چې د یوه فرد په وسـېله په کُلي توګه تمثیل سـي، اما په مشـخصـو ساینســـي ساحو او څانګو کې بالکل د یوه اجتماعي ایجاد په توګه پراخ ټولنیز سکتور جوړوي، چې پرته له دې چې د ډېرو تخـــــــصصي پوهانو د سازماني توحیـد پـه وســېلـه یو ځـای تمثیل ســـي، په بل ډول امکان نه لري. دغه ټولنیز ضـرورت دا ایجابوي چې ټوله علمأ او علوم د ډیالیکټیکي ماټریالیزم د فلسـفې پـه دغـه تـاریخي هویت کې د پوهنې اجتماعي خصـلت ته په شــعوري توګه انسـجام ورکړي او هغه تضـاد حل کړي چې زیاتره په ساینس کې د اختصاصي پلټنو او د فلسفې د عمومي ذهنیت او فکري سلوک د طرز په منځ کې پیښیږي. دغـه تضـــاد چې اکثره د فکر د میتـافیزیکي طرز پـه نتیجـه کې منځ تـه راځي، اینګلس داســې څیړلی دی: «هغه طبیعي پوهان چې د ډیالیکټیکي فکر کولو په طرز پوهیږي، بیخي لږ او نادر دي. نو ځکه دغه تضـاد چې د علمي کشفیاتو د نتـایجو او د فکر د هغو طرزونو په منځ کې ســـته چې پر قبلي ذهنیتونو بناء وي هغـه ناپایه ګډوډي یې منځ ته راوســـتلي ده چې اوس د طبیعي علومو په نظري ســـاحـه کې حاکمیت لري او هغه مایوســـي یې را پیدا کړې ده، چې معلمان او شاګردان، لیکوال او لوستونکي په یوه سویه پر اخته دي. (۳)

## نتیجه

دا دی نړۍ خپل تکامل د مځکې په کره کې دې مرحلې ته راورساه، چې زه یې د خپل یو جزء پـه توګه د ډیالیکټیکي ماټریالیزم د تیوریکي نظام په وســیله په دې وپوهولم چې ځان او جهان تر شا او تر مخ وګورم او په دې کُل کې د خپل ځـان د تکـامـل لارې چې پـه نهـايي تحليـل کې د جهـان د تکـامـل يوه څنډه تمثيلوي، په سترو بریالیتوبونو سره وړاندې ووهم.

زما په وجود کې طبیعت هغه انکشــاف ته رســیدلی دی چې په خپل ځان خبر سـوی دی او له (حصـولي علم) څخه د (حضوري علم) مرحلې ته جګ سوی دی. ډیالیکټیکي ماټریالېزم چې په شـعوري سـاحه کې د طبيعي تکامل يو ستر مظهر بلـل کيږي هم د ژونـد لپـاره د نړۍ ليـد او هم پـه ژونـد کې د عمـل د لارښـوونې تاريخي ضرورتونو ته پوره جواب ويلای سي. که زه يو ډیالیکټیکي ماټرياليست يم نو زما او د بل ترمنځ فرق کيفي دی. هغه په طبیعت کې د تالندې لـه دربي څخـه بيريږي او د ځـان د ډارولو لپاره له دې هيبت ناکه دربي څخه د ځان لپاره لويې بلاوې تصور کوي. دی هر وخت غواړي چې خپل سرنوشت د هغه فالبين په خوله او په خرائطو کې وپلټي چې تر ده په ډېر بد سـرنوشت اخته وي. د طبیعت له ځواکونو څخه ډاريږي او پر هغو باندې راز، راز نومونه ايږدي. د ډار لـه عواملو څخه ذهني ديبان او تخيلي پيريان جوړوي او د هغو په اطاعت کې د ابتکـار شــاهکـارونـه منځ تـه راوړي او پـه زړه پورې افســانې ور پورې جوړوي. له هر علمي انکشـاف څخه بيريږي او له هر نوي عيني انکشـافه سـره يې د تخيـل اوډلي مانۍ رانړيږي. له زاړه ژوند ســره يې داســې ټينګ اموخت

نیولی دی چې د هر نوي شـــي په راتلو ســـره د زوال پر خوا را نړیږي. هغه هم د ده نیکه ګان وو چې (ګالیله) ته یې د مځکې د څرخیدو پر عادي خبره مرګکۍ شـــکنجې ورکولې او (برونو) یې د خپلو نویو عقـایـدو پـه ګنـاه ژونـدۍ اور ته واچـاوه. زمـا په یاد دي چې ده په هوا کې الوتي طیاره نه منله چې په هوا الوتی سـي او د راډیویي غږ د انتقال په باره کې د ده هغه تبصـــــرې زما په حافظه کې ژونـدۍ دي چې پـه خورا متحجرانه الفاظو به یې عیني واقعیت ردواه. که به کله دا خبر خپریدئ چې ســـپوږمۍ ته د ختلو پروګرامونه تر لاس لاندې دي، نو به یې په ډېر عصـباني صـورت غالمغال کاوه چې (والله که د چا پلار ور وخیژي) او که به د ځینو ناروغیو د میکروب پر ضـد د دواوو د کشفیدو اوازه خپریده، نو به یې په دې استدلال ځان فاتح ګاڼه، چې ډاکټران که ښه دي، ځان دې له مرګه راوګرځوي او یا دې مړی ژوندی کړي.

دی په خپل ذهني محدودیت کې نور هم دونه محدود ســـوی دی چې حتی د خپلې ناپوهۍ په ویاړ باندې هم نه شرمیږي. څو کاله دمخه چې د بشـر د مادي او معنوي ترقۍ بیرغ د لومړي ځل لپاره د سپوږمۍ په کره کې ورپیدئ، نو ده له ډېرې بې تـابۍ څخـه د انکار غرغړې ووهلې او مځکې یې ټکولې، خو څرنګه چې دا خبر عالمګیره و او له شپږو لوریو څخه ده ته ویل کیده، نو یې صحنه پر ځان تنګه ولیده او په ډېره بې حوصـــله ګۍ یې په لوړ ږغ نارې کړې چې (والله د چارســو په منځ کې راکټ راولې او ما پکې ســپور کړې او د ســپوږمۍ پر کره مې هم تای کړې، لا یې والله که ومنم.) دغه دی د هغه چا ویاړ چې د انســـان د شعوري تکامل له کاروانه څخه تر شا پاته سوی وي.

دې نړۍ ته بدبینه دی او د خپل جهالت په تنګنا کې ټوله بشر ته د ځان په شان ګوري. دا هیله هېڅ نه ده ورپاته چې که بشـــر له طبقاتي مخمصو څخه ووځي، نو یو ښه ژوند د ښو معقولو او علمي روابطو په چوکاټ کې جوړولای سي. دی تر شـــا زورونه وهي، خو د زمانې جبر یې وړاندې بیایي. دا هغه کشـــمکش دی چې دی یې په ارام ژوند کې نا ارامه کړی دی.

زه هر کلـه خپـل ذهني جریـانـات لـه طبیعي جریاناتو ســـره ګورم، د طبیعت په قوانینو ځان پوهوم او په خپله ګټه اسـتفاده ځني کوم. پیښـې او حوادث داســې بولـم، چې زه یې د پوهیـدو او پیژنـدنې قابلیت لرم. د طبیعت له ړندو ځواکونو د ځان سـاتنه هم د هغو په باب د پوهنې له لارې تامینوم. زه هرې علمي اختراع ته هوسـیږم او د پوهنې په سـاحه کې هر نوي انکشـاف ته خوشـالي کوم. د علمي حقایقو لټیده زما د قدرت د ډېریدو سبب کیږي.

هر شـي ته په داسـې سترګه ګورم چې په دې نړۍ کې مادي منشأ لري او که د روح پـه بـاره کې څېړنـه کوم، هغـه هم له مادي نړۍ څخه نه باســـم. حتی زما د حریف تـاریخي جهـالـت هم د مادي اســـاســـاتو له مخې د علم په هنداره کې تحلیلوم. شـیان یوازې د فردي انتباهاتو په اسـاس په تشـو خبرو نه ثابتوم، بلکې غواړم هر ثبوت مې د طبیعـت پـه لابراتوار کې د تصـــدیق ټـاپـه ولري. ما ته نه تخیلي افسـانې کار راکوي او نه هم تشـې تصـوري شـبکې، ځکه غواړم چې د کائناتو لویې لارې، نوې ســـاحې او نوې دنیاوې ووینم، وپلټم او اســـتفاده ځني وکړم. داسې پلان یوازې په صحیح فکر او درست عملي فعالیت سره بریالیتوب

ته رسیږي. که یوازې په اندیښنو څوک پاچاهان کیدای، نو د دوهې ملنګان به اوس ټوله پاچاهان وای.

دا چې زه ماټریالیست شوم، د دې مفهوم دا نه دی چې هر شی ما وپیژندئ او د نړۍ اسرار ماته یو دم روښانه سوه. ډیالیکټیکي ماټریالیزم لکه څنګه چې ایډیالیزم نفي کوي، همدا راز هغه سطحي چلند هم نفي کوي چې زیاتره د عامیانه میکانیکي او میتافزیکي ماټریالیزم پیژندنه اسانه کوي، خو اصلي خبره دا ده چې ډیالیکټیکي ماټریالیزم، پیژندنه په خپله اصلي مجری کې اچوي او د پیژندنې امکانات منځ ته راوړي. د دې پر ځای چې یو شی ساده کړي د هغه پر ترکیب یې ور زیاتوي او په خپله د ډیالیکټیک مفهوم پرله پیچلی ترکیب دی چې ابتدأ او انتها یې د نړۍ په سرنوشت کې اخښلی دی. ماټریالیزم د عیاشۍ، بې بندوبارۍ، هوسرانۍ او داسې نورو اجتماعي کثافاتو نوم هم نه دی، لکه ځینې کسان چې تر دې عنوان لاندې دغه راز هدفونه لټوي. دا د بشر د یو واقعي اجتماعي شعور نوم دی، هم د انسان او هم د جهان په وړاندې. اوس ژوند دوې لارې لري: یا د ایډیالیزم په غفلت کې ځان خطاء ایستل او یا د ماټریالیزم په شعوري توازن کې ځان عیارول.

دا خبره یقیني ده، چې انسان د هغو شیانو په مورد کې چې پر پوهیږي، ماټریالیست دی او د کومو شیانو په باب چې نه پوهیږي، ایډیالیست دی. د پرابلمونو په حل کې هم کله چې مادي وسایل په واک کې ولري، نو اصیل ماټریالیست دی، خو له دې لارې څخه یوازې هغه وخت انحراف کوي چې یا

مـادي وسـايـل پـه واک کې ونلري يـا يې لاس تـه نه ورځي او يا يې فکر ته نه ورځي.

د دې لپاره چې انسـان پـه طبيعـت او ټولنـه کې د تکامل تاريخي رسـالت پـه بريـاليتوب وړانـدې بوځي، نو لازمـه ده چې مـادي وسـايـل يې پـه واک کې کښيـښـول سـي، په لاس ورکول سـي او فکر ته يې ور وسـتل سـي. دغه ده هغه تـاريخي مبـارزه چې ډيـاليکټيکي مـاټريـاليزم په مادي او معنوي سـاحو کې د انقلابونو پر عهده باندې ايښي ده.

## هغه اثار چې په دې لیکنه کې استفاده ورڅخه سویده.


١- Engels Frederick, Dialectic of Nature, Moscow

٢- Marx K, Engels F, German Ideology, Moscow

٣- Engels F, Socialism; Utopian and Scientific, Moscow

٤- Plekhanov Georgi, Selected Philosophical Works, Moscow

٥- Afanasyev V. A, Marxist Philosophy, Moscow

٦- Lewis Johan, History of Philosophy, London, ١٩٦٢

٧- Marx K. Engels F. Holy Family, Moscow

٨- Kharin Yu. A. Fundamental of Dialectics, Moscow, ١٩٨١

٩- Sheptulin A. P. Marxist Philosophy, Moscow, ١٩٨٠

١٠- محمد عاصمی، تشکل و تکامل افکار فلسفی، دوشنبه، شوروي اتحاد، ١٩٨٠

١١- Engels F. Ludwig Feuerbach and the End of Classical German Philosophy, Moscow.

١٢- Plekhanov G. The Development of the Monist View of History, Moscow

١٣- Group of Authors, Karl Marx, A biography, Moscow

١٤- Momjan Kh. Landmark in History, ١٩٨٠

١٥- Engels F. Anti-Duhring, Moscow

١٦- Gerikh Volkov, Birth of A Genius, Moscow, ١٩٧٩

١٧- Oizernan Theodore, Dialectical Materialism and History of Philosophy, Moscow, ١٩٨٢

١٨- Albert E. Avey. Ph.D., Handbook in History of Philosophym, New York, ١٩٦١.